د تریخ حقیقت لړۍ

# انساني کرامت(؟!!)

## جنسي تېري، ګواښونه تهدیدونه، جنګ و شخړې، عقیدې او باورونه او نور حقیقتونه

Download from:aghalibrary.cm

لیکوال: پیر محمد باوري



# انساني کرامت؟!!

ليکوال: **حاجي پير محمد (باوري)**
چاپ زيار: **ودان**
چاپکال: **۱۳۹۶ل ۲۰۱۷ز**
چاپ وار: **لومړی**
چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه
کمپوز: **حبيب خان افغان**
چاپځی: **اسد دانش مطبعه/ ۰۷۰۰۴۴۹۲۹۸**

# ګرانو لوستونکو!

دا کيسې او داستانونه مې د بې پله او ښو درنو کسانو د سترګو ليدلی حال دی، او يا زما د سترګو ليدلی حال او عيني شاهدانو په قول د دوی د خولو څخه ټکي په ټکي را اخيستې دي، د شخص نوم او ځای ځايګی او نېټه مې له دې کبله نه ده ليکلې، چې زه غواړم يوازې او يوازې د دغو څخه يو پند ترلاسه کړو، نه د چا سره دښمني او په راتلونکي کې کېدای شي، تاريخ ليکونکي د دې څخه يو څه ګټه پورته کړي او زموږ د راتلونکو نسلونو لپاره هم د بشپړ عبرت او پند سبب وګرځي.

په دېر درنښت
باوري
لندن

# نیولیک

د مور او پلار په مخکې پر لور جنسي تېری ............................................ 4
په ژوندانه کې د چانس یاري............................................................... 20
د مور ورکېدل ................................................................................ 27
ګواښ (تهدید) ................................................................................ 30
کونډه........................................................................................ 33
عقیده او باور ................................................................................. 36
جنګ او شخړه ............................................................................... 38
د ښځو حقوق په سعودي عربستان کې .................................................. 41
غسل ........................................................................................ 44
رښتیا ترخه وي............................................................................... 47
ښه دودونه ................................................................................... 49
له مجبوریته بدلمني .......................................................................... 52
ظلم چا وکړ، سزا چا ولیدله .................................................................. 56
د ژبې پرېکول ................................................................................ 58
ورانه ګټه وران زیان ........................................................................... 61
۴۹ ساعته په کښتۍ کې د مدیترانه پر لارې ............................................. 71
قسم به خداوند حضرت پلنګ ................................................................ 71
افغان سفیر په پاکستان کې ................................................................. 74
د مهاجرت لامل او ستونزې .................................................................. 74
د مذهب پالیسي.............................................................................. 78
د قانون مراعات ............................................................................... 80
ښه وکړه او په دریاب کې یې واچوه ........................................................ 81
د یوه بندي داستان ........................................................................... 85
ژوندی پاچا ................................................................................... 88
پهلوان «قوماندان» ........................................................................... 91
هیواد پالنه .................................................................................... 93

# د مور او پلار په مخ کې پر لور جنسي تېری

**د مور او پلار په مخکې پر لور جنسي تېری څرنګه چې زه د دې ډول کیسو او داستانو سره له دې امله لېوالتیا لرم، چې زمونږ د ډېرو هېوادوالو تر غوږو ور ورسیږي، زمونږ په هېواد**

کې دا ډول ناورینونه ډېر تېر شوي دي، هیڅ قوم او ټبر پر هیڅ چا ان دا چې پر خپل قوم او ټبر باندې زړه نه دی سوځلی هغسې کړنې یې ورسره کړې دي، چې حیوان یې له حیوان سره نه کوي.

یو کال مخکې زه کابل ته تللی وم، هلته زما یوه دوست راته وویل: څرنګه چې ته په حقیقي او دقیقو کیسو پسې ګرځې، نو زه به تاته یو سړی در وښیم، چې یو عجیب او غریب داستان لري، ته باید هغه واورې د دې لپاره چې راتلونکو نسلو ته پند شي، په خپلو کتابو کې ولیکه.

ما هم ورسره خوښه کړه، یوه ورځ وروسته یې زه د هغه سړي سره مخامخ کړم، سړی مې چې ولید ښه صادق او په زړه پاک افغان ښکارېده.

هغه راته وویل: زه د دغه سړي چې زما او ستا دواړو دوست دی، د ده په باور تاته خپل داستان وایم هغه هم په دې شرط چې زما نوم او ادرس به په خپل کتاب کې نه لیکې؟

ما هم ورسره ومنله ورته ومې ویل چې بیخي ډاډه اوسه!

هغه خپل داستان داسې پیل کړ.

دا د هغه وخت داستان دی، چې زموږ په ګران هېواد افغانستان کې ملوک الطایفي او سیمه ییزو حکومتو د مرکزي حکومت ځای نیولی و، او د پیسو پاړسوب دې حال ته را رسېدلی و، چې یو امریکایي ډالر د اتیا څخه تر سلو زرو افغانیو پورې پرلیده، په هره سیمه او بانډو کې بېلا بېلو حکومتونو خپل زور، ظلم او ان دا چې ناورینونه چلول.

ده زیاته کړه ما غوښتل دچاریکار څخه مزارشریف ته ولاړ شم، په چاریکار کې د موټرانو اډې ته ورغلم یوه ډریور راته وویل: چېرې ځې؟

ما ورته وویل: مزار شریف ته ځم هغه راته وویل: راځه دادی موږ حرکت کوو او د یوه تن ځای لرو، چې موټر ته یې ځیر شوم، یو کوچنی شخص زوړ ټیوټا کرولا موټر و، شا په سیټ کې یې درې تنه چې دوې سیاسرې او یو سپین ږیری سړی

ناست ول، زه د مخ په څوکۍ کې د موټروان څنګ ته کښېناستم، او حرکت مو وکړ، کله چې پل متک ته ورسېدلو، يو څښور پکول والا د موټر و مخ ته ودرېدی سلا يې پر موټروان ونيوله موټروان موټر ودراوه، څښور يو چټل لوغړن او بې نزاکته سړی وو، وويل: زموږ د پاټک محصول راکړی، څه سر به مو ګرځوم په يو څو پيسو مو ځان ترې خلاص کړ، تر تالقانو پورې دوې نورې دا ډول پوستې وې هغوی هم ډېر وځورولو پيسې يې راڅخه واخيستې، د لارې په ترڅ کې د موټر د شا د کسانو سره مو وپېژندل دوی مور او پلار او يوه يې ځوانه پېغله لور ورسره وه.

کله چې د تالقان څخه تېر شولو د سهار لس يا يوولس بجې وې، يوې درې لارې ته چې د پلخمري د ښار څخه د دهنه غوري په لور مو حرکت وکړ، څو دقيقې وروسته بيا د يوې تالاشۍ پوستې ته را ورسېدلو، څوکيدار يا پيره دار چې ډېر اوږده او خيرن ويښتان يې پر اوږو پراته وه، سلايې په لاس ډېر مغرور ولاړ و او موټر يې را وګرځاوه، وې ويل: په موټر کې څوک دي، ډريور ورته وويل: دغه شاته د يوې کورنۍ غړي چې مور، پلار او لور يې ده او دغه بل هم يو مسافر دی.

بيا يې وويل دوی دې د کوم ځای څخه را اخيستي دي؟

ډريور ورته وويل: د چاريکار څخه د پيره دار ښه او رنګ هيڅ و انسان ته نه پاتېدی لکه توره غټه بيزو داسې شکل يې درلود هغه وويل تاسو بايد هر يو سل سل ډالره د دې پاټک محصول راکړئ، که نه نو دغه نجلۍ و پرانګ او زمري ته چې دلته ويده دي ور ولم چې ويې خوري.

موږ ټولو د خدای او قرآن روی ورته ونيوی، ډېرې زاری مو ورته وکړې، په تېره بيا د نجلۍ مور چې مخ يې لکه د مړي تک ژړ شو، د موټر څخه ورکښته شوه، د پيره دار ويښتو ته ور ولوېده، پښې يې ور ښکلولې، ورته وويل مه کوه ته به هم مور او خور لرې ما مه بې پته کوه، موږ ټول ولټوه هرڅه چې لرو هغه واخله خو موږ ته اجازه راکړه چې ولاړ شو،پيره دار د

سلاح په ډيپچيک په اوږه کې ووهله هغه پړمخې په خاورو کې ولوېده، بيا يې پلار پسې ور ووت هغه يې هم پر ټټر په ډيپچيک ډېر کلک وواهه هغه هم پر ځمکه ولوېدی.
بيا نو موټر ته راغی نجلۍ ته يې وويل راکښته سه، نجلۍ هم لکه په دام کې بنده مرغۍ وزرونه ښورول او نه ورسره تلله بيا يې تر لاس ونيوله د موټر څخه يې لاندي را واچوله، بيا د سر د ويښتانو څخه ونيوله په کشولو کشولو يې د کوټې خوا ته نزدې کړه، مور او پلار يې دواړه په خاورو کې بې سده پراته دي، په دې وخت د دې کوټې څخه چې دا کوټه او حويلۍ يو وخت د غوري سمنټ مرکز و، يو بل سړی چې اوږده ويښتان خيرن او لوغړن کالي يې اغوستي وه اوږده نوکان يې ول په نوکانو کې يې خيري او خاورې بندې وې، راووت پر خپله لنډه ږيره يې لاس تېر کړ، وې ويل څه خبره ده.
پيره دار ورته وويل «پلنگ جان تيرات به هدف خورد» دا دی هغه ښکار مې درته وکړ کوم يو چې تاسو برايي ماښام راته ويلي ول.
ښه ښايسته او تنکۍ هوسۍ ده، او په خدمت کې دې ده.
هغه ډېر خوښ شو، نجلۍ يې ترلاس ونيوله او کش يې کړه مور او پلار يې په دې وخت کې يو څه پر سد راغلل راپورته شول او ورپسې ورغلل.
خو پيره دار نه پرېښودل چې داخل ورشي، د مور او پلار دواړو په سترگو کې اوښکې وچې شوې وې، د نجلۍ سورې او نارې موږ اورېدې، په ځمکه او اسمان کې هيڅوک نه ول چې زموږ مرستې ته را ورسيږي.
يو ساعت وروسته نجلۍ په داسې حال کې جامې څيرې په وينو ککړ ويښتان يې گډ وډ مخ يې څو ځايه د هغه ځناور په نوکانو ټپي شوی او وينې ترې بهيدې، د دې پاکې او معصومې نجلۍ هم په سترگو کې اوښکې وچې شوې وې، را ووتله او د مور په غيږ کې ور ولوېدله مور ته يې وويل مورجانې زه نوره نجلۍ نه يم د آب او عزت، ننگ او پت پرده مې له منځ ولاړه نور ماته

ژوند په کار نه دی.
دې سړي راته وويل دا جريان چې ما وليدی داسې سوچ مې وکړ، لکه زما خور او مور او يا لور څـو چې ژوندی يم دا مې هيڅکله له ياده نه وزي.
د دې خبرې څخه څو کاله تېر شوي ول، بيا هم د دغه ستونی څو واره د ژړا څخه ډک شو خبرې يې سمې نه شوای کولی دا و هغه جريان چې ټکي په تکي مې د هغه ځوان خولې څخه ستاسو درنو او محترمو لوستونکو تر غوږو در ورساوه.

# اسلامي جنازه

لیدلي به مو وي، په ډېرو اسلامي هېوادو کې چې یو څوک وفات شي، د کفن او غسل ورکولو وروسته یې جنازه د هدیرې پر لور وړي د لارې په بهیر کې ودې جنازې ته منډې ور وهي چې تر جنازې ور لاندې شي، د ثواب په خاطر جنازه تر یو ځایه پورې ورسره یوسي، د دې جنازې د ثواب د ګټلو لپاره خلک پر څنګو منډې ورسره وهي چاته روڼ (نوبت) نه ور رسیږي، چې ژر تر جنازه لاندې شي او ثواب یې په برخه شي.
یوه ورځ څو تنو یو سړی برمته کړی و او بیا یې پسې وژلی و، د دې لپاره چې د دوی دا کار پټ پاته شوی وي لومړی یې پر کټ (چارپایي) کښېښود د جنازې په ډول یې لارو او کوڅو ته ویست د لارې پر سر هر سړی منډې ور وهلې او تر جنازې لاندې کېدل، ورو ورو اصلي کسانو ځانونه ویستل اوجنازه د هغو خلکو پر اوږو روانه ده کوم خلک چې غواړي ثواب وګټي.
په جنازه پسې په ډلو ډلو خلک روان دي، چې روڼ ور ورسیږي، چې تر جنازې لاندې شي، کله چې خلک هدیرې ته ورنږدې شول هلته یو د بل څخه پوښتنه کوي، چې قبر یې چېرته دی؟ کومې خوا ته یې یوسي د هیچا ږغ نه پورته کیږي، په پای کې د خلکو سره کایښت (تشویش) پیدا کیږي، جنازه کوم لوري ته یوسي په پای کې جنازه پر مځکه ایږدي څو چې خاوند او یا دوستان یې وموندل سي، هر څه چې دې خوا هغه خوا ګوري، هیڅوک ږغ نه کوي، چې دا جنازه په دوی پورې اړه لري بیا نو دوی مجبور شول د مړي مخ یې ور لوڅ کړ که ګوري یو تن په وینو لژند بې له کفنه په کټ کې پروت دی، پولیس په دې جریان خبریږي، راځي او هم دغه ثوابي کسان

کومو چې غوښتل ثواب وګټي ځينې تښتي او ځينې بيا پوليسو ونيول پوښتنې او ګروېږنې يې ځينې پيل کړې.

اوس نو زموږ په ګران هيواد افغانستان کې هم دغه د ثواب جنازه د خلکو پر اوږو پرته ده مسلمان پر مسلمان ډز کوي، د الله اکبر ناره کوي اوس نه پوهيږو، چې کوم يو مسلمان او کوم يو کافر دی ايا دحکومت خلک او د ملي اردو عسکر او يا هم پوليس کافران دي او که د دوی مخالفان؟

دا جنازه يې اوس موږ ته پر اوږو راکړې ده نه پوهيږو چې کله به زموږ د اوږو څخه کښته شي.

قرآن پاک په اروپا کې سوځل کيږي ټول اسلامي هېوادونه پېته خوله ناست وي، د سعودي عربستان په ګډون چې د اسلامي نړۍ قبله ده، او که کوم يو غبرګون هم ښکاره کوي، د قوانينو په چوکاټ کې يوازې مظاهره او يا ځان ښوونه کوي مګر زموږ په هيواد کې لسګونه انسانان له منځه ځي، په ټوله نړۍ کې يوازې موږ مسلمانان يو، چې د الله اکبر په نامه يو بل سره وژنو او که نور مسلمانان هم سته.

دا هم هغه د اسلام جنازه ده، چې زموږ پر اوږو يې راکړې ده، پخپله دوی چې اصلي قاتلان دي لاسونه يې تر شا نيولي دي کاږي ويشتل يې موږ ته را پرېښودل.

د امريکا کانديد ولسمشر وايي، مسلمانان دي د ډوډۍ او اوبو څخه روژه نه نيسي بلکې د ورور وژنې څخه دې روژه ونيسي.

# تیری اوجنایت

تېری په هره ټولنه کې توپیر لري هغه په دې مانا چې یو عمل او کړنه په یوه ټولنه کې عادي او معمول عمل وي مګر عین عمل په بله ټولنه کې وحشت او جنایت وي.
د مثال په توګه د یو چا پر ښځه جنسي تېری کول په یوه ټولنه کې لوی جنایت او وحشت وي مګر هم دا کار بیا په بله ټولنه کې یو عادي کار وي.
په ځینو ټولنو کې پر مور، خور، ښځه او لور جنسي تېری نه یوازې تېری او وحشت دی بلکې د هغې ټولنې لپاره یو لوی ناورین او فاجعه وي.
پوښتنه په دې ځای کې ده، چې ولې د لویو قدرتو خاوندا او هیوادونه په وروسته پاته او خوار ځواکو هیوادو کې داسې حالت او وضعیت رامنځ ته کوي، چې هلته د خلکو پت او عزت، امنیت او خوښي له منځه ځي، او هغه څه چې هغو ته مقدس او پاک وي، تېری پرې کیږي، او تر پښو لاندې کیږي.
او په هم هغه ټولنو او هېوادو کې هغسې کسان واک ته رسوي، چې وجدان، عقیده، باور او ایمان یې له لاسه ورکړی وی، د دوی له خوا څخه حمایه او سپورت کیږي، او ملا یې تړل کیږي.
څرنګه چې دوی د عقیدې کسان نه وي نو په ځینو هېوادو کې هم هغه کسان بېرته دوی ته سرخوږی جوړوي.
یو حقیقي بېلګه چې څنګه یې عزت لوټ سو، غوږ ورته ونیسئ.
د پاکستان د پیښور په ښار کې د غلام رسول په سیمه کې یوه کورنۍ وه، د دې کورنۍ مشر یا پلار زیارت ګل نومېدی، د دې غریبې کورنۍ مور او پلار ډېرې ستونزې ګاللې وې، په پای کې یې یو وړوکی کورګی ځانته جوړ کړی و.
زیارت د غریبۍ له امله ډېر وروسته واده کړی و، څلور ماشومان یې درلودل مشر اولاد یې لس کلن او دوهم یې هم اته

کلن و، پلار به یې سهار وختي په کار او غریبي پسې ووت مابښام به کور ته راتلی.

په یوه تور باندې د دې کور مشر زیارت ګل چې د پنځوسو او شپېتو کالو ترمنځ عمر درلود، د حکومتي چارواکو له خوا په دړزو سره شهید شو، د ده مشره لور چې سپینه نومېده د لسو کالو او دوهمه لور یې شکیله نومېده هغه هم د اتو کالو وه، د ریالپور د تانې پولیسو بوتلې څو شپې یې هلته په تانه کې وساتلې پر دواړو نجونو یې جنسي تېری وکړ عزت یې ور لوټ کړ.

دوی وکولای شوای، چې د فیس بوک له لارې هم دغه د خپل پت اوعزت لوټېدل او د پلار ژوند هم د خلکو تر غوږو پورې ور ورسوي او هم یې د خپل سر په سترګو وویني، چې د دې معصومو ورو نجونو سره کوم ظلم او زور شوی دی.

نجونو په خپله معصومانه ژبه څه نا څه دا جریان او غم لړلې کیسه کړې ده، چې ویې وینې او وایې ورې زړه به دې پر تور دود او لوګی سي.

تر دې ناوړه او نامردانه خبره خو لا دا ده، چې مور یې د خپلو ماشومانو لونو په وینو رنګ کالي او جامې د پولیسو و نزدې تانې ته وروړي ول، او دا ویرجن داستان یې ټول ورته ویلی و، ورته ویلي و، چې زما غور وکړئ.

پولیېو د دې پر ځای چې ښځې ته یو څه ډاډاینه ورکړي او پر وېرجن اوخښمېدلي زړه یې پنډکی ورکښېږدي، دوی هم ناوړه هیله ترې لرله.

ښځې په کور کې بل هیڅ نارینه نه درلود، چې د خپلې کورنې ناورین تر بل کوم لوړ پوري چارواکي او یا بل کوم ځای پورې ورسوي نو ښځه ناهیلې د خپلو ماشومانو سره چې د جنسي تیري قرباني شوي ول، پاته کیږي او د خپل غم او حسرت اوښکې تویوي.

یو یې د پلار مرګ، دوهم یې د کوچنیو نجونو جنسي قرباني او دریم دا چې په کور کې شامه (نهار) دي، څوک نشته چې دوی

ته یوه ګوله ډوډۍ ورکړي او ناره يې واوري، اوس نو دوی کوم غم ژر وګالي.

# له یوې کورنۍ څخه د بچیانو اخیستل

په ناروې هیواد کې یوې ځوانې جوړې څخه د حکومت له خوا د پنځو بچو اخیستو وروسته دې هېواد کې د کوچنیانو د خوندیتوب په اړه په هیواد دننه او بهر یو نوی بحث او اندېښنې را پارېدلې دي.
په دې لړ کې تر احتجاجونو وروسته د ناروې لوی شمېر وګړي دې نتیجې ته رسېدلي دي، چې په دې هېواد کې له کوچنیانو سره مرسته کوونکې ادارې «خپل مور پلار نه د بچو جلا کولو کې» ډېره توندي ښکاره کوي.
دوی وایي چې دې لړ کې د دې ادارې دریځ ډېر کم پاملرنه کېدای شي، په ځانګړې توګه کله چې د کوچنیانو مور او پلار کډوال وي، د یوې کورنۍ ژوند هغه مهال په ټپه ودرېد چې تېر کال ۲۰۱۵ د نومبر په میاشت کې دوه تور موټران راغلل.
دې ځوانې جوړې «مور او پلار» دې ته سترګې په لار وه، چې د ښوونځي بس کې به یې دوې لوڼې چې اته او لس کلنې دي له ښوونځي وروسته کور ته راځي خو د دې خلاف د کوچنیانو د خوندیتوب ادارې یوې چارواکې یې دروازه ور وټکوله او له هغوی یې وغوښتل چې د پلټنو لپاره ورسره د پولیسو ماموریت ته ولاړ شي.
او هم په کور کې د دوی دوه زامن چې پنځه او دوه کلن دي، ور وسپاري چارواکو ورته وویل ستاسو دوې لوڼې هم د خوندیتوب ادارې په خپله ساتنه کې اخیستې او دا دوه زامن هم باید ورکړی، مور پلار سره د دوو زامنو چارواکو د ځان سره بوتلل.
دوی په دې تورن دي، چې خپل ماشومان د سزا په توګه وهي او ټکوي دا ډول سزا په ناروې کې په بشپړ ډول غیر قانوني دی.
کېدای شي، مور او پلار ځینې وختونه پر خپلو ماشومانو د هغوی د ناوړه چلند له کبله منت کړی وي او یا یې کومه څپېړه

وهلې وي، خو د طبي معاینې پر مهال په کوچنیانو کې د وهلو هیڅ نښې او علامې نه دي لیدلې.
د پوښتنو ګروپېړنو وروسته یې یوازې مور او پلار رخصت کړل په سبا یې بیا دوه تور موټران کورته راغلل دوی داسې سوچ او فکر وکړ چې زموږ بچیان یې په اشتباه کې را څخه بېولي ول، کله چې بېرته یې راوستل مګر د دوی د فکر خلاف د موټرانو څخه څلور پولیس راکښته او د هغو څخه یې درې میاشتې ماشوم هم واخیست.
دا پېښې په انټرنیټ او لارو کوڅو کې د یو پراخ احتجاجي کمپاین رامنځه ته کېدو لامل شوې.
زرګونه کسانو د دې ځوانې کورنۍ په ملاتړ لاریونو کې برخه واخیستله، لاریون کوونکو د کوچنیانو د خوندیتوب اداره په دې او نورو سیمو کې د کوچنیانو په تښتونې تورنه کړه.
ناروې کې د کډوالو د ځینو کورنیو څخه په زوره د کوچنیانو د بېلولو په تړاو نور د لوړې کچې کمپاینونه هم روان دي هغوی هم ورته ادعاوې لري.
یوې قضیې کې خو آن د ناروې او چیک جمهوریت تر منځ دیپلوماتیکه لانجه هم رامنځ ته شوې ده.
د چیک ولسمشر دې قضیې کې کوچنیانو د خوندیتوب اداره د جرمني نازیانو سره پرتله کړې ده.
د قانون پوهانو اروا‌پوهانو او ټولنیزو چارو کارپوهانو ۱۷۰ کسیزه مهمې ډلې د کوچنیانو وزارت ته یوه لیک کې د کوچنیانو د خوندیتوب اداره یوه «بېکاره اداره» بللې او ویلي یې دي دا اداره ډېرې تېروتنې کوي، چې ډېرې بدې پایلې له ځان سره لري.
له څلور میاشتو کړاو وروسته دې کورنۍ ته د هغوی درې میاشتنی زوی بېرته ورکوي خو د خپلو پاته څلورو بچو په تړاو د مې میاشتې په پای کې د محکمې نه وړاندې هیڅ ډول تمه او هیله نلري.

# د يوې اوميندوارې نجلۍ داستان

برايي زه د څو ملګرو سره يو ځای د يوه دوست مېلمانه وو، د خبرو اترو په جريان کې زموږ کوربه چې اصلاً د هرات ولايت دی، موږ ته يوه کيسه وکړه دا کيسه او داستان ډېر دردوونکی او ځورېدونکی و، دا دی زه هغه جريان ټکي په ټکي ستاسو درنو او محترمو ويونکو تر غوږو در رسوم.
دې دوست ووېل د هرات د ګذرې د ولسوالۍ د يوې ويرجنې او غم لړې کورنۍ داستان دی.
د دې کورنۍ نهه تنه مور او پلار او اوه بچيان ول، چې لومړی او دوهم اولاد يې لوڼې وې، دريم يې زوی نورې يې بيا ټولې لوڼې وې، دغه دوې مشرې لوڼې يې ډېرې ښکلې وې، چې ګل پورې مېښتې، د دې کورنۍ د نجونو د ښايست اوازه په خپله سيمه کې خپره شوې وه.
د سيمې زورمندانو او ټوپک سالارانو څو ځلې دا کورنۍ ګواښلې وه، چې لوڼې دې راکړه، څرنګه چې هغوی هر يوه دوې او درې ښځې درلودې نو د کورنۍ مور او پلار او هم پخپله نجونو نه غوښتل چې د هغوی سره واده وکړي نو له دې کبله د زورمندانو له خوا ډول ډول ګواښونه ورته کول، او ډېر يې په تنګ کړي ول.
دې کورنۍ د خپل انساني او آرام ژوند لپاره پرېکړه وکړه، چې هيواد پرېږدي، او يوه اروپايي هېواد ته ولاړ شي.
دوی د خپل ژوند ټول هست و نيست وپلورل او د يوه قاچاقبر

سره يې خبرې وکړې قاچاقبر ورته ويلي وه، چې په دوو يا درو اونيو کې مو جرمني او يا بل کوم هېواد ته چې تاسو غواړئ رسوم، د ګوتو پر سر يې شالمار ورته جوړ کړی و، دوی هم باور پر وکړئ، ځان يې دې قاچاق وړونکي ته ور وسپارئ قاچاق وړونکي دوی تر ايران پورې ورسول، دوې اوونۍ يې په ايران کې وساتل بيا يې و ترکې ته بوتلل.

د دې کورنۍ مشره لور شکيلا نومېده يو څه ليک او لوست يې هم کولای شوای، د دې د خولې بيان دی وايي چې موږ ته يې وويل تاسو يو ګام بايد زموږ د اجازې څخه پرته وانه خلئ، ولې چې بيا نيول کېږو، ټول زندان ته لېږي او د هغه څخه وروسته بېرته افغانستان ته لېږي او د پيسو مصرف مو هم بې ګټې کېږي.

بيا يې نو موږ دوې ډلې کړو زه پلار يوه وړه خور او ورور مې يوه ډله او مور مې سره د نورو خويندو سره بله ډله شوه، درې مياشتې يې هلته وساتلو هره ورځ به يې نن او سبا راته ويل:

د قاچاقبرو د ډلې څخه يو ځوان و، خلکو به ورته جاويد جاويد ويل هغه زما سره غوږ پر غوږ شو راته وويل زه واده درسره وکړم اروپا ته دې هم رسوم، داسې کوم او هغسې کوم، ما چې د ده خوږې او تودې خبرې واورېدې زړه ته مې ولوېده زما هم مينه ورسره پيدا شوه يوه ورځ يې په يوه بهانه د کوره څخه ويستم و يوه تش کورته يې بوتلم هلته يې لاس راواچاوه، ما يې مخ نيوی وکړ هغه راته وويل ولې ډارېږې، زه واده درسره کوم زما هم د ځوانۍ احساسات تر هغه وخته پورې مې د نارينه غېږ نه وه ليدلې مقصد کار تر کار تېر شو، راته وويل چاته حال مه وايه دا کار څو ورځې نور هم تکرار شو، بيا چې مې معلومات تر لاسه کړ، د ځوان ساختکي او جعلي نوم جاويد و، اصلي نوم يې چاته نه وايه، درې مياشتې وروسته يې زما مور سره د څلورو کوچنيو لوڼو بوتلل چې موږ يې دا نن شپه کېږو، نور نو دقاچاقبرانو درک ورک شو، دوې اوونۍ نور هم هلته انتظار ويوست د هيڅ شي درک معلوم نه شو.

پلار مې وویل چې بېرته خپل هېواد ته ځو، په دې وخت کې نو ورځ په ورځ زما د امیندوارۍ نښې او علامې راڅرګندېږي، کانګې (قی) راته درېږي مجبوره شومه دا جریان مې خپل پلار ته ووایه:
پلار مې په دې هیله چې څه ممکن جاوید ځوان را پیدا شي، او ستا خبره به ورسره شرعي او رسمي کړم، موږ بېرته ایران ته ولاړو ولې پیسې مو هغه پخوانیو قاچاقبرانو را څخه اخیستې وې، نورې پیسې مو نه درلودې، چې بل چاته یې ورکړو.
په ایران کې په پټه څو ډاکترانو ته ورغلم چې په ګېډه شوی کوچنی مې له منځه یوسم ډاکترانو راته وویل: کوچنی دې ډېر غټ شوی دی، د منځه وړلو امکان نلري، ممکن ته هم له منځه ورسره ولاړه سې، بیا مې په پټه یو څو ګولۍ د کونین په نامه رانیولې چا راته ویلي ول، چې دا ګولۍ کوچنی له منځه وړي، بیا مې د وینو بهېدل پیل شول په ډېر بد حالت تر خپله کوره پورې را ورسېدلو اوس دا دی امیندواره یم نه پوهېږم چې څه وکړم د ځان وژنې پریکړه مې څو واره کړې ده بیا هم ځان شیرین دی، بېرته مې د ځان وژنې څخه ډډه کړې ده، پلار مې خپلو خپلوانو ته وویل ما په ترکیه کې خپله لور شکیله جانه چاته ورکړې ده، واده یې شوی دی ډېر ژر به راشي دا دی درې میاشتې کېږي، چې هیواد ته راغلي یو د مور او خویندو احوال نلرو دا چې نور به لا څه را پیښېږي، نه پوهېږم.

# په ژوندانه کې د چانس ياري

څه موده مخکې مې يوه پخواني ملګري او نږدې دوست خپل د ژوندانه د ښو او بدو خاطرو څخه يوه کيسه راته بيان کړه او ويې ويل چې د ژوندانه په پړاوونو کې انسانان د ځانګړو خوږو او ترخو داسې پيښو سره مخامخ کيږي، چې ډېرى په زړه پورې او نه هيريدونکي وي.
پيښې چې په خپله خلک يې په پايلو نه پوهيږي، چې څه پيښيږي د انسان په فکر به يو کار ډېر بد وي مګر هغه به ډېر ښه راوخيږي او کله ناکله ډېر ښه اميد به په يوه کار کې ليدل کيږي، مګر د هغه کار پايلې ناوړه وي مانا دا چې انسانان هيڅ وخت په خپل خير او شر نه پوهيږي، يوازې پاک خداى (ج) په دې قادر دى، چې د يوه کار په انجام او خاتمه پوه وي چې په راتلونکي کې به په ګټه وي که په زيان هغه وويل چې د سفرونو په لړۍ کې ما خورا ډېر اوږده او لنډ سفرونه کړي دي، چې لوړې، ژورې او ستړياوې پکې له ورايه څرګنديدلې خو اخري اوږد سفر چې واقعاً زما لپاره هم ډېر په زړه پورې او هم ډېر خواشينوونکى و، دغه د هغې کښتۍ سفر و، چې زه د ترکيې څخه بيا تر ايټاليا پورې د يوې باري کښتۍ په واسطه ولاړم او يا يې د کښتۍ په ذريعه سفر وکړ، د خداى تعالى قربان سم ريښتيا چې وايي انسان بې وزره مرغه دى هيڅ وخت مې زړه ته نه لوېدل، چې زه دې اروپا ته سفر وکړم.
حتى زموږ خپل کور او فاميل کې به هميشه داسې تبصرې او مشورې کېدلې او فيصله به مو پر دغه وشوه چې خپل وطن بلبل وطن هيڅ وخت د خپل کور او وطن خوښۍ په بل ملک کې نشته، خوڅه وخت چې اب او دانه حواله وي او په يوه ځاى کې د يو چا قسمت شوى وي، هيڅ وخت نه پر بله کيږي، ځکه نو څه وخت چې زه د پلچرخي د زندان څخه راووتلم او بيا مې د حاجي رحماني صاحب چې زه يې ټوله ژوند احسان او ښه نيت

نشم هېرولی.

د شهزاده په سرای کې کار کاوه زما د ژوند د خورا ښو او خوږو خاطرو څخه حسابېدلی شي، ځکه ما په دولتي کار کې چې دولتي موټران یې هم درلودل او څه وخت چې مې په شهزاده سرای کې کار کاوه یو چینایي بایسکل مې درلودی د دغه بایسکل خوشحالي یې تر هغه موټر ډېره وه، خو شرایط داسې راغلل چې د شهزاده سرای د نظار شورا له خوا لومړی لوټ، غلا او بیا وسوځول شو ډېر بې رحمه کار وشو خلک ډېر تاوانیان شول، په جنګو سره ولولېدل پر ما هم یو نفر چې شین سترګی رسول نومیدی د کندهار و، د پیسوه دعوه یې راباندې وکړه، چې یعنې ما د ده پیسې پټې کړې دي خو خدای تعالی شاهد دی، چې ما د هیڅ چا سره چم نه دی کړی.

او د هغه نفر پیسې خو مې بیخي نه وې اخیستې ځکه ما نور ډېر امکانات درلودل چې پیسې پیدا کړم خو ما دغه کار نه کاوه، خدای تعالی دې هغه ته هدایت وکړي چې ناحقه دعوی یې راباندې کړې وه.

خو دغسې شرایط راغلل، چې په کابل کې مو ژوند کاوه مګر په میاشتو میاشتو د کوره نشوای وتلی ځکه هزارګانو د اریانا په څلور لاري کې پوسته درلوده په نامه ټول کندهاریان به یې نیول او وژل به یې نه پوهېږم، چې څه ګناه یې کړې وه، زه هم لومړی د څه مودې لپاره کراچۍ بیا تاشکند، مسکو او ترکیې ته ولاړم خو د ترکیې څخه سفر ډېر جالب راته معلوم شو، ځکه نو اوس راځم اصلي مطلب ته چې یعنې وروستی سفر.

څلورو انډیوالانو تصمیم درلودی، چې د روسیې څخه لومړی دوبۍ پاریس او بیا لندن ته ولاړ شو په دوبۍ، پاریس او لندن کې هوټل نیول شوی او د طیارې ټکټان اماده وه، چې ناڅاپه د والګا ګراد په یوه مارکیټ کې بمي چاودنه کیږي او د وخت دولت ټول هوايي پروازونه اسلامي هېوادو ته کنسل اعلانوي.

خو زموږ کار هم پکې خراب شو، مګر بیا هم د یوه دوست په زیار او توجه ټکټونه د دوبۍ څخه استانبول ته واړول شوه او

موږ ترکيې ته ولاړو هلته مو څلور شپې وکړې بله ورځ پرواز لرو ميدان ته ورغلو موږ غوښتل چې پاريس ته پرواز وکړو، ټوله قانوني لاره برابره ده.
ما د پخوانۍ تجربې پر اساس لومړی دوه نفره ور مخته کړل خو څرنګه چې دوی ورننوتل شول راسا پوليس پر راټول او د دوی لاسونه يې ور وتړل، ما هم د عقب نشيني لاره خپله کړه او بيا مو کار خراب شو، فکر کوم په هغه هوټل کې چې موږ ژوند کاوه.
هغو راپور ورکړی و، چې دغه خلک روسي پاسپورټونه لري، ګر په روسيې خبرې نه کوي، ځکه نو دغه دوه نفره د روسيې سفارت ته استول کيږي او هلته د دوی د تابعيت څخه انکار او په تنيجه کې زندان ته استول کيږي ما ډېر تلاش وکړ بالاخره وتوانيدلم چې پس له دوې مياشتې دوی راخوشې کړم، په داسې حال کې چې د قلب انفرت يا انفاکت مشکل هم لرم او د ژوند ټولې چارې را څخه شوړېدلې دي غوښتل مې لندن ته ولاړ شم چانس ياري راسره ونکړه په ترکيه کې بند پاته شولم، درې څلور مياشتې مې يوې او بلې خواته هلې ځلې وکړې خو هيڅ لاره د وتلو نه وه زه ولاړم انقرې ته افغاني سفارت ته مې د افغاني پاسپورت مراجعه وکړه د هغه وخت سفير د دوستم نماينده و پس له څو پوشتنو او ګروېږنو څخه يې زما د پخوانۍ دندې پوښتنه وکړه او زما د ازبکو هم صنفيانو پوشتنه يې وکړه ما د ښاغلي جنرال دوست محمد او جنرال دين محمد نوم ورته واخيست، دا هغه وخت و، چې طالبانو مزارشريف نيولی و، او په وطن کې بده ورځ وه.
دوست محمد خان په ترکمنستان کې ژوند کاوه سفير صاحب هغه ته تيلفون وکړ او ورته ويې ويل چې يو همصنفي دې خبرې درسره کوي دوست محمد خان زما سره څو خبرې وکړې بيا يې وويل سفير ته ګوشکي ورکړه ما اوربدل چې دی څه سفير ته وايي، په ازبکي يې ورته وويلچې دغه سړی زما ډېر ښاغلی ورور دی، داسې فکر وکړه چې نن دوست محمد خان ستا مېلمه

دی، دومره قدر يې وکړ، چې توان يې لرې.

زه ډېر سخت ناروغه وم، د سفير صاحب يې کور ودان سمدستي يې يوه افغاني ډاکتر ته د ډاکټر هاشم په نامه چې ښځه يې هم ترکۍ ډاکټره وه، تيلفون وکړ په خپل موټر کې يې ور وروستلم، او هغه پس له طبي معايناتو څخه خورا ډېره دوا را نيول او ماته يې رايګان راکړه دې کار زه نور هم پر پخواني هوډ لاپسې ټينګ کړم، چې افغانان ټول سره ورونه او افغانستان د افغانانو مشترک کور دی.

د ښاغلي جنرال دوست محمد خان دغه احسان زما لپاره نه هيريدونکی دی، کور يې ودان خو ما په واقعيت کې همداسې طمع څنې کوله، عبدالله جان هم خورا ډېر کومکونه راسره وکړل خو نتيجه منفي وه، ځکه نو په ترکيه کې څو مياشتې پاته شولم خو يوه ورځ مازديګر يو نفر په مخه راغلی او راته يې وويل چې غواړې ايټاليا ته ولاړ سې، ما وويل هو ويل راکړه درې زره ډالره او زه هم ورسره ولاړم پيسې مې ورکړې.

موږ راساً حرکت وکړ، او يو ځای منتظر شولو چې لږ تاريکه شوله موټر حرکت وکړ، په حرکت کې معلومېدله چې سفر لږ اوږد دی خو سهار وختي يو ساحل ته ورغلو چې د غرونو په مابين کې يې د اوبو يوه برخه وه، څراغان او ګروپان لګېدل.

خلکو به کيسه کوله، هغه د راسته لاس پوستې د يونان او هغه د چپه لاس پوستې د ترکيې نظامي اډې دي دلته يوه لويه بارداره کښتۍ ولاړه وه، چې خورا غټه کښتۍ ده موږ دغه کښتۍ ته ور وختلو کښتۍ اصلاً د کانتينرانو د انتقال لپاره جوړه شوې وه خو دوی کانټينران ځينې ايستلي وه، او موږ پنځه شوه او اتيا کسه يې ور واچولو او پر سر يې ترپال راکش کړ، قاچاقبران ترکان وه اومعامله يې د ترکانو او يونانيانو سره کړې وه په دې مفهوم چې پر دغه لار چوغکه لا هم بې له اجازې نشي تېرېدلی که دوی ونه غواړي انسان خو څه کوې، خو زموږ کښتۍ په سپينه ورځ د ترکيې د يونان د پوستو په مخ کې راتېره شوله چې ټولو راته کتل او د ورځې نهه بجې وې، يعنې سهار توده ورځ وه.

په دغه کښتۍ کې چې پنځه سوه اتیا سوارلی یې درلودله اتلس نفره افغانان وه، شل نفره سیکان وه پړیرې یې خریلي وې، نور ټوله کردان وه مګلر ټوله مسلمانانان وه پر لارې کښتۍ نه شپې او نه ورځې بې له کومې مولي یا دربېدلو تم ځای څخه حرکت وکړي دننه په کښتۍ کې تشناب هم نه و خلکو پلاستیک استعمالوی یوه بدبختي چې زه یې خواشینی کړلم، هغه د دغه بد بخته قوم کردانو ترمنځ جنګ او جدال و هره شپه به د دوی ترمنځ جنګ دعوې لاسونه اچول بد ویل او داسې نور کارونه موجود وه یوه ګروپ به د طلاباني او بل ګروپ به د بازرګاني صفت کاوه حتی خبره دې ته را ورسېدله، چې څو نفرو یو او بل په چاقو ګانو سره ووهل د اکثریت نفرو به چړې په لاس کې ببرېدل دا خو یو بد کار و، دوهم بد کار دغه و، چې نه ډوډۍ وه نه اوبه: فقط د ورځې به مو یو کوچنی بیسکوټ وخوړ چې معده لږ په حرکت کې شي او یا به مو یو دوه درې غوړپه اوبه چښلې زموږ سره بیخي ډېرې ښځې اوکوچنیان هم وه.

ټوله ضعف پراته وه حتی د کوما حالت ته ورسېدل یو بل خطر چې خطرناک و هغه د کښتي وان نابلدتیا وه، ځکه موږ پر اصلي لارو نه تلو پر غلطو لارو مو حرکت کړی و، څو ځایه داسې راغلل چې کښتۍ به غرقېدو ته نژدې شوله حتی د اوبو څاڅکي به د کښتۍ مابین ته را په هوا شولې چې داسې حالت به راغلی بیا به کردان چپه پراته وه، الله اکبر نارې به یې وهلې چې لږ به حالت سم شو بیا به د دوی جنګونه وه، د ټولو کردانو څخه چړې او چاقوګان ځکه ورڅخه وه، چې که چېرې کښتۍ غرقیږي هلته د اوبو په منځ کې د خطر او د مرګ او د مرګ او ژوند جنګ شروع کیږي، ځکه یو تعداد ډېرو نفرو د اببازي جاکټونه درلودل که چېرې کښتۍ غرقه شي،چې دوی ژوندي پاتې شي، خو هغه وخت بیا پر دغه جاکټو باندې جنګ وي یو نفر بل وژني خو جاکټ ځینې اخلي، چې خپله ژوندی پاتې شي.

یوه شپه ایټالیا ته ورسېدلو خو پر غلطه لاره تللي وو، نژدې مو کښتۍ غرقه شوې وای، دوباره شاته راوګرځېدلو بیا مو داسې

وخت حرکت وکړی، چې سهار ایټالیا ته ورسېږو، سهار وختي به ایټالیایي قلمرو کې لومړی د کشف طیارې راغلې او د خطر سره بمونه یې زموږ د کښتۍ مخې ته وغورځول مانا دا چې نور مخ ته مه ځئ چې خطر دی، بیا نو د پولیسو ګزمې معلومې شوې، څه وخت چې د ایټالیا بحري ګزمه راغله دوی ویل چې پر دغه لار چې تاسې را روان واست په دا شل کاله کښتۍ روغه نه ده تېره شوې خو د خدای فضل وشو.

چې بېرته شاته وګرځېدلاست، زموږ کښتۍ د ساحل پر غاړه ودرېدله، پولیس ولاړ وه یوه یوه نفر ته یې کتل کښتي وانانو چې اوږدې ږیرې درلودې هغه یې وخریلې، پولیسو له سترګو وپېژندل هغه بندیان کړل موږ ایټالیا ته ولاړو یوه میاشت بندیان وو وروسته د دریو میاشتي ویزې په راکولو سره ولاړو د روم ښار ته څه وخت چې روم ته ورسېدلم هلته د افغانانو او نورو کډوالو خورا سترې ژوند و، هلته داسې اصول وه، چا چې غوښتل په ایټالیا کې پاته شي، د یوه کال ویزه ورکول کېدل، پس له هغه درې زره امریکایي پیسې او ستیزن پاسپورت او د یوه کال لپاره لیلیه ورکول کېدل، چې دغه یوکال به تېر سو بیا ستا لپاره هیڅ د مرستې ځای نه و، ته پوهېدلې ژوند او سرنوشت دې معمولاً ټول افغانان یا مهاجر سهار پر لس بجې یوې کلیسا ته ورتلل او هلته یې معمولي د سهار چای چښلې او بیا به به مازدیګر پر پنځه بجې بلې کلیسا ته ورتلل او هلته به یې د شپې ډوډۍ خوړل ټول افغانان بېکاره لوی لونډه ګرځېدل فقط غټې خبرې د ځان توصیف او سر شکونه په حقیقت کې هیچا د خوب ځای نه درلودی په پارکو او یا نورو خرابه تعمیرو کې به بیدیدل چې شپه او ورځ تېر کړي، زما په اند که چېرې اتحاد او اتفاق او د ابتکار سرې پکې پیدا شوی وای د کار زمینه هم برابرېدلای شوای زما چې خوښ شو هغه د بنګله دیشیانو کار و، یو نفر هم بېکاره نه و، دوی وچه او لنده میوه خرڅوله هر څوک چې به نن راغلی سبا به د یوه سړک پر غاړه ناست دوه درې منه وچه رنګا رنګ میوه به یې خرڅوله د شپې به دېرش

ځلويښت په يوه کور کې سره راټول او پوره وروروليي به يې يو ځای ژوند کاوه مګر افغانان دې ته ناست وه، چې څرنګه يو بل افغان ته فريب ورکړي، او جيب يې ځينې ووهي، وايي چې مسکو ته به هم مکملې طيارې د هزاره مليت وړونو له خوا ډکې راتلې او ټول مصارف يې د اغاخان موسسې ورکول دوی به هم ځلويښتو نفرو په يوه کور کې ژوند کاوه د ورځې يوه دانه هګۍ يو ګيلاس مستې او نيمه ډوډۍ د دوی استحقاق و يو کال به يې هلته مزدوری کوله، په دغه موده کې بايد ده دومره پيسې پيدا کړې وای، چې ځان اروپاته په ورسوي هيڅا حق نه درلودی چې ببځايه وګرځي پاته شول دا نور افغانان چې مسکو ته به را ورسېدل درې ځلور ورځې وروسته به بيا دوی په بار کې ناست او يوه دانه به يې بغل ته کښېنولې وه، او څه خواري چې به يې کښله په نورو به يې ځټل يوه مياشت هلته و د هغه ځايه څخه فرانسې، بلجيم، هالنډ، المان، دنمارک، سويډن او وروسته ناروې ته ورسېدلم، دغه سفر تقريباً اته مياشتې در بر ونيوی او خورا ډېر مشکلات مو وليدل خو اوس د خدال تعالی څخه ډېر راضي يم،چې ماته يې دومره توان او طاقت راکړی دی، چې د ډېرو غټو مشکلاتو په مقابل کې مې خپل توان او طاقت له لاسه نه دی ورکړی، دغه زما د ژوند جالبې خاطرې وې چې د کوره ووتلم او ورسره مخامخ شولم.

و من الله التوفيق

# د مور ورکېدل

نن به د مهاجرتوب د ستونزو داسې یوه حقیقي کیسه درته ولیکم، چې پخپله به هم ورته هک پک پاته سې.
هغه کیسه داسې ده، چې یوې کورنۍ په ډول ډول ستونزو چې هغه بیا بېل یو داستان دی، ځان و جرمني ته ورساوه، په جرمني او نوره اروپا کې دا ډول قانون دی، تر څو چې منل شوی نه یې د هغه ځایه څخه چې حکومت درته ټاکلی دی، پنځه ویشت کیلومتره لیرې نسې تللی.
او که په خپل سر او بې له اجازې د هغه ځای څخه چې ته ژوند پکې کوې تر پنځه ویشت کیلو متره لیرې ولاړې او حکومت در خبر شي دا بیا بل جرم او ګناه ده، ستا د مهاجرت پر کیس منفي اغېز کوي او نه منل کېږي.
څرنګه چې په اروپا کې داسې باډرونه یا سرحدونه نشته، چې خلک دې لټول کېږي ازاد په ټوله اروپا کې سره ګرځي.
دې کورنۍ چې نوې په اروپا کې یعنې په جرمني کې مهاجره شوې وه، او غوښتل یې چې د دې ازادۍ څخه دوی هم په پټه ګټه واخلي نو پریکړه یې وکړه،چې د خپلو نورو دوستانو د لیدلو لپاره هالنډ ته ولاړ شي.
هالنډ چې د جرمني سره ګډه پوله لري دوی هم بې له اجازې او په خپل سر هالنډ ته ولاړل او خپله سپین سرې او ناروغه مور یې هم له ځانه سره بوتله هلته یې د دوستانو سره څو شپې او ورځې تیرې کړې، چې مور یې ډېره ناروغه شوه، دوی روغتون ته هم ځکه نه شوای ورتلای چې غيء قانوني او بې

له اسنادو دې هېواد ته راغلي ول.
د خدای کارونه دي، نصيب او قسمت دی د مور اجل يې پوره و، مور يې هلته وفات شوه.
د کورنۍ غړي هک پک شوه، چې اوس څنګه وکړي، د دې لپاره چې د دې کورنۍ د مهاجرت کيس وران شوی نه وي نو غوښتل يې چې د مور مړی په پټه بېرته جرمني ته يوسي، د دې لپاره يې داسې تدابير وسنجول، چې يو بکس يې جوړ کړ او په هغه کې يې د مور مړی ځای پر ځای او د موټر په جنګله کې يې ټينګ وتاړه.
دا له دې امله چې دوی نشوای کولای خپل مړی په هالنډ کې ښکاره کړي، ولې چې دوی ټول غير قانوني دي هېواد ته ننوتلي ول او يا يې بې له اجازې هلته دفن کړي نو له وچ مجبوريت له مخې يې بايد خپل مړی و جرمني ته په کوم ځای کې دوی اوسېدل هلته رسولی وای.
کله چې يې مړی د موټر په سر کې جنګله کې وتاړه او ځای پر ځای يې کړ، نو د جرمني پر لور يې حرکت وکړ د لارې په اوږدو کې وږي شول غوښتل يې چې په يوه رستورانت کې ډوډۍ او چای وخوري، موټر يې يو ځا پارک کړ، دوی ولاړل ډوډۍ خوړلوته يوساعت وروسته چې راغلل ګوري، چې موټر يې نشته يو چا غلاوی کړی دی، اوس نو دوی و پوليسو ته هم بشپړ رپوټ نشي ورکولای، بيا يې نو د خپل يوه دوست له لارې و پوليسو ته يوازې د موټر د ورکېدو خبر ورکړ او بس پوليسو ته يې دا هم ونه ويل چې د موټر په سر کې مړی پروت دی او د دوی کالي او بکسونه هم پکې پراته وه، دوی په دوو لاسو او په دوو پښو بېرته جرمني ته واوښتل او خپل ځای ته يې ځان ورساوه، هغه موټر سره د مړي پسې ورک شول تر ننه ورځې پورې يې بيا هيڅ درک نه دی معلوم شوی د دې جريان څخه اوس دوه درې کاله کيږي، خدای خبر دی چې مړی او کالي به يې جرته غورځولي وي او موټر به يې په خپله ښه کړی وي، او يا به يې پرزه کړی وي.

# ګواښ (تهدید)

ډېر ناپوه او ځان غوښتونکي کسان د دین، مذهب، قوم، حزب، سیمې او طبقې څخه د ځان په ګټه کار اخلي او زیار باسي چې نور ناپوه او نالوستي کسان هم پر خپله شا و خوا راغونډ کړي او د هغو څخه د سپر په توګه کار واخلي او تر ځان يې جار کړي، دوی د ټولو ګټو په نامه ډول ډول ګټې لاس ته راوړي او هغه څخه بیا یوازې د ځان په ګټه ترې کار اخلي.
د ناپوهانو او نالوستو په سیمه کې یو هندو دوکانداري کوله د هم دې سیمې مسجد ډېر ورنژدې و، یوه ورځ د مسجد ملا و دې هندو دوکاندار ته وویل: ته باید زموږ د جومات سره هره میاشت مرسته وکړې، هندو دوکاندار ورته وویل: چې موږ درمسال لرو زه خپل خیر او خیرات هغه ته ورکوم.
ملا ورته وویل: چې نه ته چې په دې سیمه کې اوسېږې، او دلته دوکانداري کوې او زموږ پر مسلمانانو مال پلورې، نو مرسته هم باید زموږ سره وکړې.
هندو يې پر خبره غوږ ونه نیوی، بله ورځ ملا په مسجد کې و خپلو ټولو مقتدیانو ته وویل: څرنګه چې ما معلومات لاس ته راوړي، دغه زموږ او ستاسو د سیمې دوکاندار وهابي دی، نو د وهابي څخه سودا رانیول ګناه لري، تاسو باید د دې دوکاندار څخه د دې وروسته هیڅ شی وانه خلی.
خلکو د ملا خبره ورسره ومنله د هغه وروسته يې د خپل د اړتیا وړ مواد د نورو ځایو څخه رانیول.
بیا نو د هندو کاروبار په ټپه ودرېدی، هندو د ځان سره سوچ وکړ، چې بې د ملا د خوښېدو او راضي کېدو څخه بله لاره نلري، نو ملا ته ورغی، ورته وویل، چې زه ستا خبره درسره منم او تاته هره میاشت یو څه درکوم ملا يې خوښ او راضي کړ، بله ورځ ملا بیا په جومات کې خپلو ټولو مقتدیانو ته وویل، زما د معلوماتو له مخې دغه زموږ او ستاسو هندو دوکاندار

اوس د وهابيتوب څخه اوښتی دی اوس وهابي نه دی نو تاسو کولی شئ، چې د ده څخه سودا وکړئ اوخپل د اړتیا وړ مواد د ده څخه وپلورئ.
بیا نو ټولو خلکو بېرته مخ ور واړاوه او خپله سودا یې د هندو دوکاندار څخه پیل کړه.
بله بېلګه: هغه دا چې زه پروسږ کال یعنې ۲۰۱۴ کې د حج د فریضې د مراسمو لپاره سعودي عربستان ته تللی وم، هلته مې ډېر افغانان ولیدل،چې کار و بار او ژوند یې کاوه.
خو ټولو افغانانو په خپل نامه هیڅ شی نه درلودل ټولو کفیل یا وکیل درلود د دوی هرڅه د همغه وکیل په نامه ول، دوی پخپله د خپل مال، جایداد، پیسو او نورو شتو هیڅ واک او اختیار نه درلود.
یوه افغان چې د کټواز د سیمې څخه و دا ډول کیسه راته وکړه.
زما ورور پنځلس کاله مخکې دې هیواد ته راغی او ځان ته یې یو کفیل ونیوی کال په کال یې دې وکیل ته د هغه د وکالت له وجې پیسې هم ورکولې، نه یوازې زما ورور بلکې ټول افغانان اوخارجیان چې دوی ورته اجنبیان وایي وکیلانو ته پیسې ورکوي، ډېری وکیلان بیا داسې فکر کوي، چې دا زما مزدور، غلام او نوکر دی او د هغه د مرضي څخه هیڅ نشي اوښتلای، او د هغه بې اجازې یو ګام نسي اخیستلای، په یوه اشاره یې په تش تور لاس د هیواده څخه باسي او د هغه ټول شته، چې بې له هغه هم د ده په نامه وي ترې اخلي.
بېرته به زما د ورور خبره درته وکړم، هغه دا چې زما ورور کله چې دلته را ورسېدی کفیل یې ونیوی نو د مجبوریت اوناکامۍ له مخې یې په ډېرو درنو او سختو کارو لاس پورې کړ د ۴۰-۵۰ درجو ګرمۍ کې به د کورنو جوړولو په کارو بوخت و، د ډېرې ګرمۍ څخه به یو نیم وخت شخ پاته سو پر ملا به کړوپ شو، بېرته به یې درنې سمنټي خښتې پر ملا ورکښېښودلې څو دقیقې به دغه درون بار د ده پر ملا پروت و، بیا به یو څه دمه ورغله او راپورته به شو، په دې ډول یې لس کاله زیار وکیښ یو څو

پیسې یې سره برابرې کړې او یو غټ موټر (لارۍ) یې رانیوی.
چې د هغه په واسطه خپل کاروبار لږ پر مخ بوزي کله چې موټر یې رانیوی یوه میاشت وروسته یې وکیل یوه بهانه ورته جوړه کړه ډېر ژر یې د هیواد څخه ویوست د لسو کالو ثمره چې په هغه ډول زیار یې لاس ته راوړي وه، کفیل ولکه کړه.
دې افغان راته وویل زه پخپله مستري یم ورکشاپ لرم کفیل مې دوه درې سوه کیلومتره لیرې ژوند کوي او هغه هم درې عرادې ګاډی لري، هر کله چې یې کوم ګاډی وران شي، دستي ماته تیلفون کوي، زه په هر حالت کې چې یم باید هرو مرو ژر تر ژره حرکت وکړم، د کفیل د وران شوي ګاډي لپاره باید پرزه هم ور واخلم او ګاډی یې ور جوړ کړم، سر بېره پر دې چې دا ګاډی وړیا ور جوړوم، کال په کال نورې پیسې هم ورکوم، او خیال یې ساتم، که چېرې د موټر د جوړولو او یا کال په کال د پیسو ورکولو کې لږ ځنډ وکړم داسې مې ګواښي لکه حیوان...
نو د مجبوریت له کبله نه سم کولی چې هیڅ ډول غبرګون وښیم نو د ده ټول ګواښونه او تهدیدونه زغمم او تېروم یې ځکه چې کورنۍ مې په افغانستان کې ده او هغه یوازې زما و لاس ته ګوري که زه شی ور ونه لیږم وږي پاته کیږي.

# کونډه

یو و نیم وخت زما څخه هم د کونډې مفهوم ورک شي، چې مور، څه ډول ښځو ته کونډې ووایو.
ایا یوازې دا ښځو ته چې مېړه یې مړ شوی وي، او که هغه ډول ښځو ته هم کونډ ویلای شو، چې مېړه یې د خپلې ښځې د اوږو بار وي په نیشو اخته وي، زه به لومړی د هغې کونډې په اړه یو لږ څه درته ولیکم، چې مېړه یې مړ شوی وي.
دا ډول ښځې چې مېړه یې مړ شوی وي، په وروسته پاته ټولنو کې په ډول ډول کړاوو او بدبختیو اخته وي.
زموږ د ناوړه دود او دستور سره سم کونډه د خپل واک او اختیار نه ده د دوهم ځل لپاره په خپله خوښه واده نشـي کولای او د خپل ژوند ملګری د خپلې خوښې سره سم ځانته نشي ټاکلی، بلکه مجبوره ده د خپلې خسرګنۍ د خوښې سره برابر د هغوی په خوښه هغه هم د خسرګنۍ په کورنۍ کې یو څوک ورته ټاکل کیږي دا مجبوره ده، چې د هغه سره واده وکړي.
که یې د خسرګنۍ په کورنۍ کې څړه (مجرد) څوک نه وي نو بیا یې و داسې چاته کېښنوي، چې بله ښځه هم ولري، دا به یې دوهمه ښځه وي او که داسې سړی هم نه وي نو بیا یې و یوه کوچني ته چې عمر یې تر دې څو ګرایه لږ وي کېښنوي.
او که چېرې یې په کور کې هیڅ دا ډول سړی نه وي بیا یې نو په خپلو دوستانو کې د یوه په نامه کوي.
سربېره پر دې چې د خپل مېړه د ټاکلو او خوښولو واک نلري بلکې په کور کې سپکې او سپورې هم ورته ویل کیږي، یو څوک ورته وایي ته ناسي وې، چې مېړه دې مړ شو، بل څوک ورته وایي ته سپېره یې ممکن بیا هم کونډه سې، دا ډول خبرې ډېرې ورته کیږي، که یې چېرې یې اولاد نه درلود او ي،ازې لونې یې درلودې، بدبخته او سیا بخته یې او دا ډول چنجنې خبرې ورته کوي.

دوهم ډول کونده هغې ته وايي چې د مېړه په ژوند تر کونډې هم بدتره وي لکه ما چې يوه ښځه په خپله سيمه کې وليدله هغې خپلې کيسې داسې راته پيل کړې.

دې اسکېرلي ښځې راته وويل «کاشکې زه کونډه وای» ما ورته وويل څنګه؟

دا بېچاره څو دقيقې غلې وه رډ رډ يې راته کتل لکه يوې مجسمې ته چې ګورې او يو تش کالبوت وي په سترګو کې ژړا وچه شوې وه، ويل نه پوهېږم د کوم ځای څخه يې درته پيل کړم، د ژوند ستونځې مې بيخي ډېرې دي، خو زه به يې يو څو لنډې، لنډې درته بيان کړم.

زه اوس د څلورو لونو مور يم په خپل ژوند کې مې د خوښۍ او ارامۍ ګوله نه ده په خوله کړې.

کله چې مې واده وکړ، مېړه مې په ډول ډول نيشو بوخت و، لکه هيروئين، چرس، ترياک او نسوارو.

څرنګه چې زه يې په ؟؟؟ ورکړې وم، او په هغه وخت کې زما مېړه نيشه نه کوله، وروسته نو بيا چاره نه وه، هرو مرو يې بايد ور واده کړې وای.

لنډه دا چې په کور کې مې مېړه، خواښې، لېور او ان دا چې د مېړه خوينډې هر يو بېل، بېل وهي نه پوهېږم يا به وهل راباندې زده کوي.

مېړه مې په شپو شپو ورک وي، کله ناکله چې کور ته راشي، لکه لوند سپی ډېر سوړ بوی ترې ځي، په چټليو او مرداريو کې شپې او ورځې تېرې کړې وي، کالي او ځان يې ټول په چټليو ککړ وي، آن دا چې يو نيم وخت يې پخپله هم ځان خراب کړی وي (پرتوګ يې ډک کړی وي) بيا نو زما څخه ډوډۍ، کالي او پيسې غواړي که ور يې نه کړم، بيا مو نو وهي.

په کور کې زه ي،ه خونه لرم، چې پلاستيکي فرش پکې غوړېدلی دی، بې له يوه څو زړو برستنو او زړو توشکو او يو څو جوړو د اغوستو کالي بل هيڅ شی نسته.

کوم وخت چې د پلار کره ولاړه سمه هغوی يو څو پيسې راکړې،

ځرنګه چې خپل کور ته بېرته راسم دستي مې تالاشي کړي هغه ځو پيسې چې مې مور او پلار راکړې وي، هغه راځخه واخلي خپل ځان ته نيشه يي توکي په واخلي.
کله کله بيا راته وايي چې د پلار د کوره څخه بايد ځان ته خرڅ او مصرف راوړې، د تلويزيون، سينما، پارک، چکر او مېلې خبرې مې يوازې د خلکو د خولې څخه اورېدلې دي.
پلار دوی مې راته وايي راسه دلته زموږ سره کښېنه موږ هر څه درکوو مګر د څلورو لونړو مصرف توان موږ نلرو، زه چې مې لونړو ته وګورم نه مې زړه کيږي، چې يوازې يې پرېږدم، په دې ځای کې دا متل ښه صدق کوي يوې خوا ته پانې او بلې خوا ته پړانګ...
ډوډۍ تر لاس راکوي، په وچه ډوډۍ مې سم ارمان نه دی ختلی، ټول منت او سنت راباندې کوي، د ډېر فشار څخه مې اوس عصاب کار نه کوي، په ډول ډول ناروغيو اخته شوې يم، يو ډول رنځ چې خلک ورته ډيپرس وايي اخته يم، ډېر وخت مې زړه راته وايي چې ځان ووژنم، پر ځان تېل واچوم او بيا اورلګيت ورته ووهم او د دې رنځو څخه ځان خلاص کړم.
بيا چې دې خپلو لونړو ته وګورم، چې زما د مرګ وروسته به څه ډول زور، زياتی او ظلم ورسره کيږي، نو له دې کبله مې ځان ټينګ نيولی دی، اوځان وژنې څخه مې ډډه کړې ده.
نو اوس ته پخپله راته ووايه، چې زه کونډه نه يمه، ايا کونډه تر ما ښه نه ده؟ او نورې څو پوښتنې؟
ما هم د دې د خولې خبرې ټکي په ټکي ستاسو تر غوږه پورې د رسولو په خاطر درته وليکلې نور نو قضاوت ستاسو په لاس...

# عقيده او باور

يو سړی د سوداګري د کار او ورځنۍ لپاره د څو مياشتو لپاره د کوره څخه مسافر او پرديس شوی و، د څو مياشت پرديسۍ څخه وروسته کله چې خپل کور ته راوګرځېدی او په خپل کور ورننوتی که ګوري ځوانه ښايسته پېغله لور يې ستوني ستغ بې سده پرته ده، پلار يې ډېر وارخطا شو، بې له دېې څخه چې د چا سره ستړې مسې او روغبړ وکړي، د خپلې لور خوا ته ور تېر شو، وويل څه خبره ده؟

لور يې د حرکت او خوځښت څخه لوېدلې وه يو څه په هوښ کې شوه خپلې ښايستی او غټی سترګې يې د خپل پلار په لور ور واړولی ژبه يي ګرد سره ګنګوړه وه، خو په زړه کې هوښياره وه، غټې اوښکې يې پر سرو اننګيو (باړخوګانو) راوبهېدلې، په سترګو کې يې ناهيلي له ورايه ښکارېده پلار يې بيا خپلې مېرمنې ته ور ږغ کړه، چې څه خبره ده؟ دا نجلۍ ولې داسې ناروغه ده؟ څومره وخت کيږی چې داسې ناروغه ده؟ ايا ډاکتر ته مو وروستلې ده؟

مېرمنې يې د دې پوښتنو په ځواب کې ورته وويل: سړيه! نجلۍ دا دوې مياشتې کيږي، چې ورځ په ورځ ننيږي، خوب او خوراک نلري، زه داسې فکر کوم، چې سيل او دوک به ور لوېدلی وي، پلار يې بيا وويل ايا ډاکتر ته مو وروستلې ده؟

مور يې ورته وويل: دجومات ملا صاحب مو راوستلی و، هغه کتاب پر وکتی وويل: زه فکر کوم نجلۍ ته سيل او دوک ور لوېدلی دی، هغه هم دغه زما خبره راسره ومنله او بيا يې راته وويل: دا نجلۍ په دعا او تعويض سره جوړيږي دوې اونۍ کيږي، چې تعويضونه او څاښتونه مو ورته راوړي دي، مګر تر اوسه پورې يې هيڅ ښه والی نه دی راغلی.

پلار يې ورته په خښم شو ورته وويل: ايا ډاکتر ته مو ور وستلې ده؟ مور يې بيا ورته وويل: يوه اوونۍ مخکې مو د بر

کلي اغا صاحب هم راوستل و، يو پسه دروږ هم ورکړ هغه هم خپل دم او چوف پر وکړ خو په رنځ کې يې هيڅ بدلون نه دی راغلی.
پلار يې د غصې څخه سور او شين شو په لوړ اواز يې وويل زه څه درته وايم او تاسو څه واياست زه درته وايم ډاکتر ته مو ورښکاره کړې ده که نه؟
مور يې ورته وويل: که رښتيا درته ووايم په دې ډاکتر او درملو زه هيڅ عقيده او باور نه لرم نو له دې کبله مې ډاکتر ته نه ده ور وستلې، زه داسې سوچ او فکر کوم، چې هم دغه ملايان، سيدان پيران او اخندان د خدای دوستان دي د دوی په برکت او تعويضو باندې به ښه شي او روغه به شي.
او بل اصلي لامل خو يې لا دا دی که يې چېرې زه و ډاکتر ته وروړلم، او د کلي خلک او نور دوستان خبر شي بيا هيڅوک زما لور ته په مرکه نه راځي او هيڅوک يې نه غواړي، دوی به وايي د ډاکتر لاس پر لګېدلی دی، نوره نو زموږ په کار نه ده، نو ممکن د تل لپاره زموږ په کور کې بې مېړه پاته شي.
سړی د خپلې مېرمنې و خبرو ته هک پک پاته سو، نه پوهېدی، چې څه ورته ووايي غابښونه يې سره وچيچل لور يې واخيستله و ډاکتر ته يې بوتله ډاکتر چې نجلۍ وليدله ورته وويل: نجلۍ د تبرکلز ډېره مزمنه ناروغي لري، که دې ژر نه وای راوستلې ممکن له منځه تللې وای، بيا يې نو درمل ورته واخيستل درملنه يې ورته پيل کړه نجلۍ ډېره ژر رکه روغه سوه.

# جنګ او شخړه

جنګ او شخړه د انسان د پیدایښت سره د انسان په وجود کې نه وي رانغښتي بلکې د سیمې او محیط څخه ورو ورو د انسان په ذهن کې ځای نیسي او هغه ورسره عادي کیږي.
بیا نو وهل ټکول، بې پته کول، تېپي کول آن دا چې د انسان وژل هم ډېر کسانو ته یو عادي او معمولي کړنه او عمل ښکاري که کوچنیان او واړه ماشومان تر سالمې او روغې روزنې لاندې ونیول شي او دوی ته دا ور په ډاګه شي، چې جنګ او شخړه او دا ډول نورې کړنې انساني، اخلاقي او بشري کړنې نه دي نو بیا په یوه ټولنه کې د جنګ او شخړو کچه ډېره ټیټه راځي آن دا چې ګرد سره له منځه ځي.
او که چېرې کوچنیان د ښوونې او روزنې څخه لیرې پاته شي په ډول ډول بدبختیو او بدمرغیو اخته کیږي.
لکه زموږ په وروسته پاته ټولنو په تېره بیا په کلیو او بانډو کې کوچنیان په خپلو لومړیو وختو کې لومړی میږیان په جنګ سره اچوي، بیا چې لږ لویان شي چرګان، کرکان (مرزان) سپیان، غوایان، ګډان (پسونه) آسان، اوښان خره او آن دا چې انسانان په جنګ سره اچوي او له هغوی څخه خوند اخلي او په دې نه پوهیږي، چې دا ټول حیوانان ځان لري، درد لري، لکه انسان دا ډول خوږیږي.
کله چې دوی په دې ډول جنګونو کې را لوئیږي بیا نو دوی ته جنګ او شخړه ډېر ساده عادي او تر پښنو لاندې یو کار ښکاري، په کندهار کې بیا کوږ (ګفتار) نیسي او د سپیانو سره یې جنګوي، په زرګونو زرګونو خلک پر راټول وي، چې ودې ته بیا کوږوالی وایي که چېرې کوږ غټ او غښتلې وي، بیا د کور خوله ورتړي او سپي ورخوشي کوي، کوږ په وینو لژندوي د دې څخه دوی خوند اخلي د کوجنیانو په مخ کې دحیواناتو حلالول هم یو ناوړه کار دی، په پر مخ تللو ټولنو کې د حیوانانو

حلول بېل ځای لري هر څوک د هغو حلالول نه ويني.
د دې لپاره چې هغه حيوان دحلالېدو په وخت په عذاب نه شي، بيا نو يوه برقي جټکه ورکوي، په هغه جټکه ورکوي، په هغه جټکه په يوه ثانيه کې بې سده کيږي، او بيا يې نو حلالوي چې په دې ډول نو بيا هيڅ عذاب نه پر تېريږي.
زه د اروپايي ټولنې رحم چې د انسانانو او حيوانانو په باره کې لري د اسيايي او وروسته پاته ټولنو سره هيڅ نه سم پرتله کولی.
زه ډېری وخت پخپله په خپل ځان کې ورک سم او ذد دې ځای لوړه عالي او مخ تللې تکنالوژي چې ووينم بيا مې نو خپل ګران هېواد افغانستان په فکر کې راشي په اندېښنو کې ډوب سم، چې د دې ځای خلک د خپلو خلکو او هېواد د پرمختګ او ودې لپاره نورې څه هلې ځلې کوي، او زموږ خلک د خپلې ناپوهي له امله د خپل هيواد د ورانولو لپاره کومې هلې ځلې کوي، نو زموږ په هيواد کې ړانده نيکمرغه دي، کاڼه ارام او يوازې لېوني ازاد دي.
څرنګه چې دلته هيڅوک و هيڅ حيوان ته زيان نه رسوي نو ځکه هغوی هم ډاډه شوي دي، چې څوک زيان نه ور رسوي نو له دې امله د انسانانو سره نزدې او په څنګ کې ژوند کوي، هيلی، کوترې، زرکې او نور ياغي مرغان انسانانو ته نزدې راځي او د دوی څخه د مرستې هيله کولي انسانان هم ډوډۍ او نور خواړه ور اچوي.
نور د ځنګله ياغي حيوانان لکه وزې، هوسۍ، غرڅه او نور هم دا ډول دي، ملګر زموږ په هيواد کې د خلکو د ظلم او زور له امله انسانان او حيوانان هيواد پريږدي او تښتي ډول ډول ښايسته مرغان او نور حيوانان د هيواد څخه وتښتدېدل د ځينو حيوانانو اوس هيڅ بېلګه نه پيدا کيږي، زموږ د هيواد ښاروګانې (ميناوې) و ازبکستان او تاجکستان ته تللې دي هغو هم پوهيږي، چې دا مرغۍ د افغانستان څخه را تښتېدلې دي، ځکه چې دوی مخکې دا ډول مرغۍ نه درلودې اوس يې دوی د

افغاني مرغانو په نامه بولي، وايي (افګانکه).

# د ښځو حقوق په سعودي عربستان کې

د سعودي عربستان هیواد د حقوق بشر او د ښځو ازادي نه ورکولو په تور تورن دي، په داسې حال کې چې په نورو اسلامي اوعربي هېوادو کې لکه عمارات، قطر او داسې نورو کې د ښځو ازادي د اروپا څخه هم مخکې ده دا ځنګه کېدای شي، یو بام او دوې هوا وې.

په عربستان کې ښځې که ناروغه هم وي، آن دا چې که د کوما په حـال کې وي او د مرګ سره مخامخ وي و ډاکتر ته بې له خپل مېړه، ورور او یا پلار څخه پرته د بل چا سره او یا هم یوازې نسـي تللای، که یوازې ولیدله شي، دا جرم دی.

ښځه بې له بشپړه حجابه چې مخ به یې هم پټ وي په کوڅه او بازار کې که شرعي محرم یې هم ورسره وي، نسـي ګرځېدلای که ولیدله شوه جرم دی.

ښځه ډریوري نه شي کولی، که ډریوري وکړي دا ډېره لویه ګناه ده، سزا ورکول کیږي.

د عربستان یوه اداره چې امر باالمعروف نومیږي ډېر واک ورکړل شوی دی، چې ښځو ته ډول ډول سزاوې ورکړي.

د عربستان په جنوب کې یو ښار دی، چې عطس خمیس نومیږي، په دې ښار او سیمه کې مېړه حق نلري چې د خپلې ښځې مخ وویني، که یې چېرې مخ ووینې بیا نو ښځې ته طلاق ورکول کیږي.

نو ښځه زیار باسي چې هیڅکله یې څوک مخ ونه ویني ان چې خپل مېړه یې هم...

د عربستان یوه ورځپاڼه ده، چې الریاض نومیږي، په دې ورځپاڼه کې راغلي وه، چې یوه ښځه دېرش کاله وروسته د خوب به حالت کې مېړه د دې مخ ولیدی په دې جرم باندې طلاقه شوه، بله ښځه چې څلویښت کاله یې دواړه کېدل درې بچیان یې هم درلود په دې جرم چې مېړه یې مخ ولیدی طلاقه شوه.

بله ښځه چې د اویا کالو وه، وویل تر اوسه زما مېړه زما مخ نه دی لیدلی ایا دا د اسلام او حقوق بشر سره برابر یو کار دی؟
ولې په سعودي عربستان کې ښځو ته حق نه ورکول کېږي، چې ډریوري وکړي، په ټکسي موټر کې سپره شي او یا په نورمال حجاب کې وګرځي.
سعودي عربستان چې د اسام سمبول او قبله ده، باید ښځو ته خپله شرعي ازادي ورکړي.
امریکا او اروپا چې د سعودي عربستان ستراتیژیک دوستان او ځانونه د ښځو او بشر د حقوقو مدافعین بولي ولې پر سعودي عربستان د دوی په دې سیاست چې پر ښځو او بشر بې حده ظلم او زور کوي، فشار نه راوړي.
د دویځوانان او سپین ږیري د خپلې عیاشۍ او ساعت تیري لپاره بیا نورو هېوادونو ته روان دي.
د بېلګې په توګه د دوی یو شهزاده د نوي کال په شپه امریکا کې د یوې موډلې ښځې سره چې هغې مېړه هم درلود نوم کیم کوردشان و د یو میلیون ډالرو په مقابل کې ورسره یو ځای شو.
پخپله د عربستان پاچا عبدالله چې یو څه وخت مخکې مړ شو، هغه هم پټه ښځه درلوده، چې هغه ښځه یې اوس دلته په لندن کې اوسیږي او د میراث په توګه یې څو میلیونه ډالره د خپل مېړه څخه د محکمې په زور تر لاسه کړل، دوی چې خپلې ښځې طلاقې هم کړي، بیا هم دوی ته حق نه ورکوي چې د بل چاسره واده وکړي.
مګر پخپله مېرونه یې بیا دوبۍ، قطر، اروپا، امریکا اونورو هېوادو ته یوازې او یوازې د خپلې عیاشۍ لپاره روان وي، هلته بیا په لکو لکو ډالرونه مصرفوي په پنجو پنجو ډالرونه پر رقاصو ښځو پاشي او د هغوی څخه خوند اخلي، دا خو څه کوې د سوریې، لیبیا، عرقا او مصر څخه بې وزلي او بې چاره کورنۍ چې هر چېرته وي دهغفو پر ځوانو ښځو او آن دا چې پر پېغلو باندې جنسي تېری کوي د دوی د مجبوریت څخه ګټه اخلي، د دې پر ځای چې لاس نیوی یې وکړي دا عملونه او کړنې ترسره

کوي.

همدغه د سعودي عربستان د حکومت ورانه پالیسي د ښځو د حقوقو په اړه ښځې دې عمل ته را هڅولې دي، چې دمېړونو پر قصد په بدلمنۍ لاس پورې کړي.

د مثال په توګه: په سعودي عربستان کې زما یوه ملګري د یوه خپل دوست سره چې هغه د ټکسي ډریور و، داسې کیسه او داستان واورېد.

ټکسي وان ورته وویل ماته په دوبۍ کې یوې عربې ښځې لاس راکی ما ټکسي ورته ودراوه، هغه راپورته شوه یوه هوټل ته یې بوتلم کله چې هوټل ته ورسېدلو راته وویل: راځه ما ورته وویل: زه وخت نه لرم کار کوم، دې راته وویل: څه چرت مه وهه، زه ستا د کار پیسې درکوم بیا نو ورسره ولاړم په هوټل کې یې یوه کوټه ونیوله چې ښځې ته مې وکتل ډېره چاغه شلنډه، سره او سپینه ډېره ښایسته وه ډېره ښه شپه مو سره تېره کړه، زما د تلیفون نمبر یې واخیست راته وویل هر وخت چې زما په کار شوې، تلیفون درکوم ډېر ژر به ځان را رسوې، ما ورته وویل سمه ده، بیا یې راته وویل پام کوه چې ته هیڅکله تلیفون ونکړې، که زما مېړه در خبر شي وژني دي، هغه ډېر شتمن سړی دی کوم ځای کې دې ولیدم ځان راباندې پوه نه کړې دا کار زه دده په قصد سره کوم ولې چې دی د نورو خارجي ښځو اونجونو سره خپله عیاشي کوي زه هم انسانه یم و هر څه ته اړتیا لرم او دی هیڅ زما په کیسه کې نه دی، نو زه مجبوره یمه چې داسې کارونه وکړم، ماته یې پیسې راکړې او رخصت یې کړمه.

# غسل

په ډېرو وروسته پاته هېوادونو کې په تېره بيا زموږ د هېواد په ډېرو سيمو کې د تشناب په نامه ځای نه لري، او نه يې پېژني، هم دا ډول د بيت الخلا يا خاک انداز په نامه سره هم څه شی نشته، خلک دومره شاته پاته شوي دي، چې د خپل ژوند د لومړيو اړتياوو څخه هم برخمن نه دي دا ډول شپې او ورځې تېروي چې چانه وي ليدلې هيڅ سوچ اوګمان نه شي کولی، چې دا ډول ژوند هم امکان لري؟

د نړۍ واکداران زما مداران او بډايان داسې فکر هم نه کوي، چې دا وروسته پاته انسانان لکه د حيوانانو غوندې ژوند تېروي او د ژوند د اسانتياوو څخه هيڅ شی په واک کې نلري، لکه کور، کالي ډوډۍ، روغتيا، سواد اوداسې نور... تشناب او خاک انداز خو ګردسره پرېږده.

د نړۍ واک لرونکي نور هم زيار باسي، چې خواران او وروسته پاته کسان هم دا ډول په تيارو کې وساتي، او د خپلو ځانونو لپاره په دې نړۍ کې څه بلکې په دې هڅه کې دي،چې په نورو ستورو کې ځان ته د ژوند امکانات برابر کړي.

دوی دا سوچ او فکر هم نه کوي، چې دا وروسته پاته انسانان هم د دوی د ډول، ذات او جنس څخه دي، او په اصل کې هيڅ کوم توپير نلري.

زه به د غسل په اړه چې په وروسته پاته سيمو کې تر سره کيږي، د بېلګې په توګه يو داستان وليکم، تاسو ته به ټوکه ښکاري، هرو مرو به ورته وخاندئ، تاسو ملامت هم نه ياست داسې خبرې هم د خندا وړ دي، او هم د ژړا هغه دا چې د هيواد په وروسته پاته سيمو او بانډو کې پر يوې ښځې غسل اوښتی و، غوښتل يې چې غسل وکړي، نو سهار وختي په شنه خړه د خوبه څخه راپورته کيږي.

چې ځانته اوبه تودې کړي، ځکه چې د ژمي سړې شپې وې،

وختي بيا له دې کبله غسل د شرم او حيا خبره ده، څوک يې بايد ونه ويني او په خبر هم نه شي.

دې ښځې يوه ګډهوه، (افتابه) اوبه تودې کړې دي، چې غسل په وکړي او ځان په پريمنځي.

څرنګه چې د تشناب په نامه څه شی نلري، نو غوجلې (ګاوخانې) ته ننووزي چې هلته بوده ګان (حيوان) هم ولاړ دي د غوجلې تودوخه د بوده ګانو په تودوخه يو څه توده ده.

کله چې ښځه کالي، باسي د کوټ بند په نامه هم څه شی نسته، نو خپل کالي يې د خره په شا چې هلته په غوجل کې ولاړ و اچوي.

دا يوه ګډهوه اوبه په دې ډول پر خپل سر اړوي چې نيم ځان يې لوند او نيم ځان يې وچ پاته کيږي.

هغه اوبه چې پر ځمکه لويږي، څاڅکي يې بېرته د دې پر ځان لګيږي، د دې پر ځای چې ځان يې ومينځل شي او پاک شي د هغه پر ځای نور هم پسې چټليږي، مردارې او ناپاکې اوبه د دې پر ځان لګيږي.

په هر صورت دا ځانته يو ډاډ او سکنه ورکوي، چې ځه غسل خو مې وکړ.

کله چې دا ښځه د ځان په وينځلو بوخته دده د غوجل ور يې هم تړلی نه دی هغه خر چې د دې کالي وربانديې پراته دي په خپل اوبو سره دروازه خلاصوي او دبانديې وزي، ښځه اسکېرلي او بېچاره په ګاوخانه کې بندي پاته کيږي، ولې چې لوڅه لېره خو دبانديې نه شي راوتلی، دا تر هغه وخت پورې هلته بندي پاته کيږي، تر څو چې نورې ښځينه د خپل حاجت د رفع کولو لپاره غوجل ته راغلې نه وي، نارينه بيا د خپل حاجت رفع کولو او چکر وهلو لپاره د کوره څخه دبانديې وزي اودس هم هلته په جومات کې تازه کوي، کله چې د کورنۍ کوم غړی ګابن ته ورځي بيا نو ښځه ور نارې کوي، هغه يې کالي ورته راوړي او بيا هغه د غوجلې څخه راوځي.

# رښتيا ترخه وي

ما تاسو ته تل د وير او غم کيسې کړې دي، غواړم، چې يوه او نيمه داسې کيسه هم درته وليکم چې يوه خوله خندا مو هم په برخه شي او ځرنګه چې د هغه نورو کيسو څخه بد اغيزمن شوي ياست نو په دې ډول کيسو مو بيا فکر بدليږي.
کيسه داسې ده، چې يو وخت لوی مجلس او باندار جوړ شوی و په دې مجلس کې کلتوري کسان، شاعران، ليکوالان او ژورنالستان موجود ول.
د مجلس په ګډونکوونکو کې يوه مېرمن چې ځان يې ډېر سينګار کړی و او ښه ښکلې جامې يې هم اغوستې وې، د يوه ژورناليست څخه په دې تمه پوښتنه وکړه، چې د دې د غوښتنې سره سم ځواب ورکړي، هغه پوښتنه دا وه، چې زه د څو کالو درته ښکارم، ژورنالست هم د دې د غوښتنې سره سم چې دا يې راضي کړې وي ورته وويل: چې زما په خيلا د شلو کالو په شا و خوا کې به يې، ښځې ته دې خبرې ډېر خوند ورکړ تندی يې سره وغوړېدی وې ويل په دې نړۍ کې که ژورنالستان نه وی نړۍ ورانه ده، په رښتيا چې ژورنالستان حقيقت ويونکي او نيک خلک دي.
بيا ښځې مخ هم هغه ژورنالست ته ور واړاوه او ورته وې ويل تا مخکې زما د پوښتنې په ځواب کې راته وويل: د شلو کالو په شا و خوا کې ته لطف وکړه، دقيق راته ووايه!
ژورنالست د دې لپاره چې هغه نه وي خفه کړې ورته وويل: زه چې ستا ودې سنګار ته او هم دا ډول و جامو ته ګورم، بيا هم تقريباً د شلو کالو ښکارې.
ښځې بيا هم ورته وويل: چې واقعاً ژورنالستان ډېر شريف خلک دي خو نه ی، څه دقيق راته ووايه! د تقريباً څخه تېر سه...
ژورنالست ورته وويل: زه چې ستا ودې ناز او ادا ته ګورم تر شلو کالو ډېره نه ښکارې.

ښځې ته د ده خبرو ډېر خوند ورکاوه وار په وار پسې غوړېدله او د ژورنالستانو صفت او ښېګڼې يې بيانولې په پای کې ورته وويل: سړيه ته ستا په خيال او ګمان زما دقيق عمر را ياد کړه سړی يې ډېر په تنګ کړ، ورته وې ويل: درې وارې شل څو کيږي.

ښځې ورته وويل شپېته...

ژورنالست ورته وويل: تر شپېتو کالو يوه وءځ لا والله که لږ يې ښځه ډېره وخښمېده او عصاب يې وران شول، وې ويل په نړی کې تر ژورنالستانو ډېر بد او درواغجن خلک والله که ستا تل مسايل تحريفوي، د دروغو څخه رښتيا او د رښتياوو څخه دروغ جوړوي، خدای دې دوی ووهي.

# ښنه دودونه

زه به نن پر هغو ښو دودونو او رسم و رواجونو یو څه رڼا درته واچوم کوم چې نن د شخړو، جګړو او بې امنیو له کبله کمزوري شوي او یا بیخي له منځه تللي دي.
دا ډول رسم او رواجونه کوم،چې زه اوس پر رڼغېړم دا د پښتنو په سیمو کې ډېر رواج او په درنه سترګه ورته کتل کېږي.
که څوک هغه په پام کې ونه نیسي او یا هغه څخه تېری او سرغړونه وکړي هغه ته ټول خلک په ډېره سپکه سترګه ګوري، د یوه کمزوري، بې غیرته، ناځوانه، بې پته او پښتونګلوي اصولو خلاف یې بولي نو ځکه هیڅوک د هغه اصولو څخه سر نه غړوي او درناوی یې کوي.
د مثال په توګه: زما یو دوست د پاکستان د بنو سیمې ته تللی و، هغه خپله کیسه داسې راته وکړه.
هغه وویل: ما داسې سوچ کاوه، چې دا ډول رسم و رواج او دود به یوازې زموږ د پکتیا، ننګرهار اونورو پښتنو سیمو کې وي خو ومې لیدل چې د بنو پښتنو هم کټ مټ هغه زموږ ډول دود درلود.
هغه دا چې زه د مازدیګر د لمانځه پر مهال و یوه جومات ته ورغلم، چې ومې کتل د هر سړي و مخ ته ټوپک،توره او یا لویه چاړه پرته وه،کله چې لمونځ مو وکړ او سلام مو وګرځاوه، د دوعا څخه وروسته مې د یوه سړي څخه وپوښتل چې دا خلک ولې ټول د سلا سره پر لمانځه ولاړ دي.
هغه راته وویل دا ټول کسان چې سلا لري دوی د خلکو سره دښمني لري.
ما ورته وویل: دښمنان یې چېرته دي؟ هغه په ځواب کې راته وویل، دوی هم دلته یو د بل په څنګ کې سره ولاړ دي، او لمونځونه سره کوي.
بیا ما ورته وویل نو دوی ولې یو پر بل باندې برید نه سره

کوي؟ هغه راته وخندل او راته وويل د دې ځای رواج داسې دی، چې د کلي په شا وخوا کې هيڅوک پر چا بريد نه کوي، دوی د کلي او بانډو څخه وتلې سيمه کې چې يو د بل سره مخامخ شي، بيا نو يو پر باندې بريد او حمله کوي.

دوی نه يوازې دا چې په کلي کې يو بر بل بريد نه کوي کله چې په ليرو سيمو کې او په دښت و سحرا کې يو د بل سره مخامخ شي که چېرې د چا سره سياسره، کوچنی او يا هم سپين ږيری ورسره وي د هغه په احترام او درناوي سره پر هغه بريد نه کوي.

په تېره بيا د ښځو ډېر درناوی کوي که د چاسره ښځه ورسره وي خپله لاره ورڅخه اړوي.

او که دوی څړه (مجرد) يو دښمن د بل دښمن سره په دښت او سارا کې مخامخ شي، بيا هم هر يو چې ځان غښتلی بولي نابېره پر هغه بل باندې وار او ټک نه کوي او ورته وايي ځان دې تيار کړه، او لومړی ته وار ورته وکړه، دا د دوی اصول دي، بله بېلګه: دا چې ويل کيږي افغانان مېلمه پال دي دا خبره حقيقت لري نارينه څه چې ښځې هم مېلمه پالې دي لکه په دې مثال کې: د شپې د يوه مخور او مشـر سړي کور ته په داسې وخت کې چې هغه په کور کې نسته څو تنه مېلمانه کور ته ورځي کله چې د کور دروازه ور ټکوي د کور مېرمن خپل کوچنی زوی پوهوي ورته وايي که مېلمنو دې د پلار پوښتنه وکړه، ورته ووايه چې هو په کور کې دی ولې چې د ډوډۍ وخت دی کوټې ته يې بوزه هلک هم دا کار وکړ، مېلمانه يې کوټې ته بوتلل، مور يې ډوډۍ کوټې ته ورولېږل کله چې ډوډۍوخوړله شوه مېلمنو پوښتنه وکړه، چې حاجي صاحب چېرې دی؟

ولې نه راوزي؟ هلک ورته وويل: چې پلار مې په کور کې نسته څرنګه چې د ډوډۍ وخت و، مور مې راته وويل څرنګه چې پلار دې نسته زه خو پر کور يم بايد مېلمانه زموږ د کور څخه ناهيلي ولاړ نه شي، دا دی د مېلمه پالنې دود.

# له مجبوریته بدلمني

دادی زه نن بیا یو تریخ ملګری حقیقي داستان درته لیکم، ډېری وخت حقیقت او رښتیا ډېر ترخه وي خو چاره څه ده باید د ډېرو خلکو تر غوږه ور ورسېږي، چې ځینې یې په خپل ځان کې بدلون راولي او ځینې نور بیا پند او عبرت ترې نه واخلي.
د داستان پیل داسې کېږي:
زما یو ملګری دی، چې ښه غیرتي پر افغانیت ولاړ اوکلک پښتون دی، هغه خپل د سترګو لیدلی حال او داستان داسې راته بیان کړ.
هغه راته وویل: زموږ د کور سره نزدې په یوه کور کې یوه ښځه د څلور بچیانو او یوه معیوب مېړه سره اوسېږي، د کوڅې او محل خلکو د دې ښځې څخه بیخي کرکه راتله، ځکه چې دا ښځه بدلمنې وه، ټولو خلکو به مخ ترې اړاوه.
یوه ورځ ما دا ښځه ولیدله ورته ومې ویل، زه غواړم ستا سره یو، څو خبرې وکړم، ښځې ځان راڅخه تېر کړ ولې دا پوهېده چې زه د دې سړی نه یم چې دې ته دې په بده سترګه وګورم، په دې هم پوهېده چې زه ورته نصیحت کوم.
د دې ښځې څخه مې دا غوښتنه څو ځلې تکرار کړه خودې لاس نه راکاوه، په پای کې مې یوه ورځ په زغرده او ټینګه ورته وویل: چې زه هرو مرو ستاسره وینم ځکه چې د کوڅې او محل خلک په تاپسې بدې بدې خبرې کوي، زه غواړم په دې ځان پوه کړم، چې دا خبرې حقیقت لري او که نه؟
ښځه پوه شوه، چې زه په ټینګه د دې خبرې څېړل غواړم بیا یې نو وعده راسره وکړه، چې پلانۍ ورځ زموږ کورته راسه زه هم په تاکلې ورځ په ګنګو ماښام چې خلک مې ونه ویني او دا ګمان راباندې ونه کړي، چې زه هم د جنسي غریزې د حل لپاره ور روان یم.
کله چې کور ته ورغلم مخ مې پټ کړی و، چې څوک مې ونه

پېژني، ور مې ور ورو ورټکاوه، څو دقیقې وروسته یې ور را پرانیست ورننوتلم د وره شاته یې یوه پنډه زړه پرده ځړېدله د دې لپاره چې که ور خلاص شي د کور غولی او کوټې یې ښکار نه شي.

ښځې زه یوې کوټې ته بوتلم په هغه کوټه کې یو پلاستیکي فرش هوار و پر کړکیو د دباندې څخه پلاستیک میخ شوی و، ولې چې کړکیو هنداري نه درلودې.

مخکې له دې چې زه په خبرو پیل وکړم، ښځې راته وویل: زه پوهېږم، چې ته څه غواړې راته ووایې:

ښځې راته وویل: زه به لومړۍ خپله کیسه درته بیان کړم بیا که دې کومه پوښتنه درلوده د هغې ځواب به هم بیا درکړم.

ما ورته وویل: سمه ده.

د ښځې د سترګو څخه اوښکې کله مرغلرې داسې راتوئېدې خپلو خبرو ته یې ادامه ورکړه، وې ویل: دغه عکس وینې چې پر دیوال ځړېږي، ما ورته وویل هو!

دې راته وویل: دا زما د مېړه د ځوانۍ عکس دی، هغه اوس په هغه بله کوټه کې ړوند او ګوډ راته پروت دی، دا مېړه مې د طالبانو سره په جګړه کې د یوه مین په چاودنه کې ړوند او ګوډ شو، څو میاشتې په روغتون کې بستر و، کله چې یې ټپونه ورغېدل بیا مې نو کور ته راوستی، او دا دی اوس راته پروت دی، او زما د غاړې دی.

کله چې مې حکومتي ادارو ته د ده د تقاعد لپاره مراجعه وکړه او ورغلم هغوی به پورته او کښته راته وکتل، زما لاسو او پښو ته یې ډېر کتل،چې ځوانه یمه که سپین سرې کله چې دوی ولیدلم چې ځوانه یمه، او زما عکس هم پر وکالت خط مښتی و، هغه چې ولید دوی پوه شول، چې هم ځوانه او هم ښایسته یم نو ډول ډول غوښتنې یې را څخه درلودې ځینو به په اشاره او ځینو نورو به بیا راساً راته ویل: چې ستا کار بې له پیسو او یا دا بلې معاملې نه خلاصیږي.

پیسې ما نه درلودې، چې په رشوت کې مې ورکړې وای.

او د دوی دا بله غوښتنه (جنسي تېری) مې هیڅکله نه شوای منلای، مرګ مې قبول و، خونه د دوی هغه ناروا هیله چې زما څخه یې لرله، ډېره ناهیلې شوم، دحکومتي مرستې څخه لاس پر سر شوم بیا مې پر خپلو دوستانو مخ راواړاوه مرسته مې ترې وغوښته هغوی هم د خپل وس او توان سره یو څه مرسته راسره وکړه.

ډېری شپې داسې راغلې دي،چې ماشومان به مې شامه ویدول ولاړم په فقر اوسوال مې پیل وکړ، کری ورځ به مې سوال کاوه د داسې خلکو څخه مې غوښتنه او سوال کاوه،چې زما په نظر به ښه پاک مسلمان پرهیزګاره او صادق سړی و، مګر هغه به هم را څخه نوره هیله لرله بیا به د جوماتو مخې ته درېدلم او سوال به مې کاوه دومره څه مې لاس ته نه راتلل، چې زموږ ستونزه دې را حل کړي، یو زر او پنځه سوه مې د کور کرایه ورکوله، د کور خاوند کرایه راباندې لوړه کړه، راته یې وویل: چې باید درې زره افغانۍ کرایه ورکړم.

نوره نوهکه پکه سوم، هرې خوا ته چې مې منډه واخیسته مخ مې دیوال راوګرځاوه، هیڅ ګټه یې راته ونکړه.

بیا پر سوداګرو ورمخ سوم دوی به هم یوه و نیم پنځه او لس افغانۍ راکړې.

او یوه نیم به بیا دا بله غوښتنه راڅخه کوله...

بیا نو د مرګ او ژوند تر منځ دغه یوه لاره راته پاته وه، (بدلمني) هو دا کار اوس د وچ مجبوریت څخه کوم.

زموږ د دود سره سم اوس ځان ډېر سپک راته ښکاري، خپل ټول دوستان مې له لاسه ورکړه، سترګې مې ټولو دوستانو او ټولني ته ټیټې دي،هغوی ټولو اړیکې راسره شلولې دي، اوس نو یوازې دغه زړه کوټه او ماشومان مې چې دوی هم په هیڅ شي نه پوهیږي راپاته دي او بس...

که ماشومان مې لوی شي دوی به هم بد راباندې وایي او په سپکه سترګه به راته ګوري.

هغو خلکو چې پخوا به فقر پر کاوه، د انسانیت او بشر دوستی

له مخې پنځه او لس روپۍ نه راکولې مګر اوس د هم هغو خلکو چې جنسي غريزه ور ترسره کوم درې سوه تر پنځوسو افغانيو پورې راکوي.
د هم هغه بدلمنۍ په پيسو خپله ګوذاره کوم د خپل معيوب مېړه او ماشومانو اړتياوې ور پوره کوم.
اوس نو ته راته ووايه! که بله کومه لاره در معلومه وي، چې هغه لار پسې ونيسم، د دې ښځې بيان چې مې واورېدى خوله او ستونى مې وچ کلک سو، هک او پک پاته شوم، تر لاس يې ونيولم خپل مېړه او څلور ماشومان يې راښکاره کړل دوى چې مې وليدل تر سترګو مې اوښکې راخوشې شوې څه چې مې په جيب کې درلودل هغه مې ورکړل او د کوره ځينې راووتلم.

# ظلم چا وکړ، سزا چا ولیدله

زه به نن یو بل حقیقت درته روښانه کړم، هغه دا چې په لندن کې مې یو خپل هیوادوال ولیدی، چې یوه اوږه او یوه سترګه یې ساختګي او پلاستیکي ول، او هم دا ډول د سر د کوپړۍ هډوکي یې هم پلاستیکي و، ډېر مې زړه پر وسوځېد د خبرو اترو په جریان کې مې ودې ته تیار کړ، چې خپله کیسه او داستان راته ووایي ده خپلو خبرو ته دوام ورکړ وې ویل:
زه د کندهار څخه کابل ته ولاړم دا هغه وخت و چې طالبانو ماته خوړلې وه او د کابل څخه یې پښې سپکې کړې وې.
څرنګه چې ما په هیڅ حزب او یا تنظیم پورې اړه نه درلوده نو په ډاډه زړه د کابل پر لورې په یوه شخصي کار پسې را روان شوم، په کوټه سنګي کې زموږ موټر د مسلح خلکو د خوا څخه ودرېدی څرنګه چې ما لنګۍ او کندهاري کالي اغوستي و، راته وویل: ته لکه چې طالب یې ما ورته وویل وروښو والله که طالب یم، بل نفر چې سور مخ یې و او پکول یې پر سر و، وویل: راکښته یې کړی، څرنګه چې راکښته یې کړم، دستي یې څو کنداغه پر دې سر سر ووهلم، زه بیخي ګنګس شوم، هلته یې یوې کوڅې ته ورکش کړم، په کوڅه کې یې تر پښو لاندې کړم، ښکنځل یې هم راته کول، ویل یې بچه سګ از دست شما طالب های وحشی و خونخوار چقدر ظلم بالای ما شده او داسې نورې خبرې په دې وخت کې زه بې سده شوی وم.
یو وخت چې یو څه په سد کې راغلم، یوه سترګه مې یو څه رونه کړه خلک راته ولاړ دي زه یې په دیوال پورې په یوه اوږه میخ کړی وم.
دا بله سترګه مې لاندې څېېدله تر سر مې وینې روانې وې، ماغزه مې ښکاره کېدل، د سر کوپړۍ مې ماته وه، خلکو وویل ژوندی دی دا یې پښتو ژبه وویل نور نه یم پوهېدلی بېرته بې سده شوی وم، دوی زه د علي اباد روغتون ته رسولی وم، د

روغتون ډاکترانو دې کور ودان وي، خپل وس او توان يې راسره کړی و، بيا مې خپلوان راخبر شول تر پاکستان پورې يې بوتلم هلته يې راته وويل ستا درملنه دلته امکان نلري، ولې چې د اوږې هډوکي دې ټوټه ټوټه شوي دي او يو څو ټوټې يې هم نشته بل دا چې يوه سترګه دې هم له منځه تللې ده، او د سر کوپړۍ دې هم پلاستيکي جراحي غواړي بيا نو د ډاکټرانو په تصديق د درملنې لپاره لندن ته ولاړم هلته مې د لندن د حکومت څخه د پناهندګۍ غوښتنه وکړه ټول اسناد مې ورښکاره کړل، بيا يې نو زه ومنلم او اوس دا دی دلته ژوند کوم.

# د ژبې پرېکول

ښکنځل یا کنځا زموږ د هېواد په سیمو کې ډول ډول اغېزه لري، په ځینو سیمو او ځینو خلکو کې کنځاوو ته ډېر اهمیت نه ورکوي یوازې او یوازې د ښکنځلکونکي خښم، درد او غضب یې بولي او هغه چاته چې ښکنځل کوي د هغه کوچني کول، بې آبه کول او تر خپلې اغیزې لاندې راوستل دي.
د هغو ډلو څخه یو نیم داسې وایي که څوک ماته ووایي ستا خور اومور او یا ښځه څه و څه وکړم، داهیڅ مانا او مفهوم ځکه نلري چې زما مور چېرته ده، خور مې چېرته او ښځه مې چېرته ده او دی چېرته دی، ایا دی زما تر مور، خور او ښځې پورې ور رسېدلای شي او که یوازې د خپل زړه بړاس او خښم باسي، نو له دې کبله ښکنځلکوونکي یوازې خپل ځان سپکوي د پوهانو په اند ځان بې ابه بې عزته او لوچک ښیي.
د ځینو نورو خلکو په نظر بیا ښکنځل ډېره غټه خبره بولي تر دې پولې او حده پورې، چې ښکنځلکوونکی چې څه وایي دوی داسې فکر کوي، چې هغه عملي کوي نو ځکه د دوی ترمنځ شخړې اوجنګونه دي حد ته رسیږي، چې یو بل سره وژني، او په بدي سره بدلیږي او دا بدي په پېړیو پېړیو د دوی ترمنځ پاته کیږي، د هرې ډلې چې پر خپلې غلیمې ډلې لاس بر شي تر وهلو، ټکولو بې آبه کولو بې عزته کولو او ان دا چې تر وژلو صرفه نه کوي.
یو څه پخوا د کندهار په ولایت کې د جواري (قمار) په ډګر کې د دو کسانو سره خوله شوه یو او بل ته سره بړرکي شول، چې یو یې
بسم الله نومېدی او بل یې مسګر غلام محمد نومېدی دې مسګر غلام محمد ته وویل ستا ښځه څه و څه کړم.
بسم الله یوار سور، بیا شین او بیا تور پر له واښت هغه پیسې چې یې ګټلې وې، په خپله لمن کې اچولې وې، لمن یې په ډکه وه

ولاړ شو خپله لمن يې د خمار په ميدان کې ټک وهل و مسګر غلام محمد ته يې وويل پر ما دې هم خپله ښځه لکه خور او مور داسې وي، که زه ورسره نزدې سم تر څو چې ستا ژبه مې در پرې کړې نه وي.
بسم الله هم نوی واده کړی و مسګر ښکنځلو ډېره بده او منفي اغيزه پر وکړه هغه هم د سلګونو خلکو په مخ کې...
خلکو چې هر څه ډاډاينه ورکوله هيڅ ګټه يې نه درلوده، په ډېر خښم سره د قمار د ميدان څخه ووت سترګې يې تکې سرې وې په ځان نه پوهېدی تا به ويل سوچ لېونی او يا غرق نښه دی.
د هغه وخت د هغه ميدان شاهد چې اوس هغه هم په لندن کې اوسيږي دا کيسه او داستان چې د هغه د سترګو ليدلی حال و ماته ووايه!
دې سړي ماته وويل: ما دا دواړه کسان پېژندل مسګر غلام محمد يو لوچک، چرچري او بې باکه سړی و مګر بسم الله بيا يو سنګين او درونډ سړی و خبره يې خبره وه.
بسم الله له هم هغې ګړۍ څخه وروسته يوه بياتي (غچي) و جيب ته واچوله او په داسې موقع پسې ګرځېدی څو مسګر غلام محمد په لاس ورشي، دې سړي وويل: يوه ورځ پر بايسکل سپور وم د کندهار د ښار په کوڅو کې تېرېدم چې يوځای چيغې او نارې دي، خلک سره راټول شوي ول، زه هم ورته ودرېدم پوښتنه مې وکړه چې څه خبره ده؟
خلکو راته وويل مسګر غلام محمد يې وواژه، او ژبه يې په غچي ترې پرې کړه، زه دستي پوه شوم،ځکه چې زه د دوی په لومړۍ شخړه کې هم موجود وم، چې د هغه وخت څخه د يوه کاله څخه لږ وخت تېر شوی و.
بيا نو بسم الله فراري شو د حکومت تور و، يو و نيم وخت به پاکستان او يو و نيم وخت به بيا په پټه هېواد ته راتلی،او د خپل هوډ د ترسره کولو لپاره يې ځان او خپله کورنۍ په تل پاته کړکيچ او دښمني کې واچوله.

# ورانه ګټه وران زيان

دا داستان داسې يو داستان دی، چې ما په خپلو سترګو ليدلی او زما د ګاونډيانو کيسه او داستان دی.
هغه داسې چې ما په کارته پروان کې خپل دوه منزله کور درلود، څرنګه چې زما د کورنۍ غړي هم هغه وخت درې څلور تنه وه، او په يوه منزل کې مو ژوند کاوه، دا بل منزل يې تش و، نو دا منزل مې و يوه سړي ته په کرايه ورکړ.
دې سړي درې لوڼې او يو زوی درلودل، دوې مشرانې لوڼې يې دومره ښکلې وې، چې ګل پورې نښتې ډېری وخت به زموږ د کوره څخه د موټرانو تر تم ځای پورې د ځوانانو هلکانو د لاسه ډېرې په تنګې وې، هلکانو به يې مخه نيولې وه ازار به يې ور کاوه، دا ځکه چې دوی بې حده ښايستې وې.
مشره لور يې په پوهنتون کې لوست وايه او د خپلې سيمې د يوه ځوان سره نامزاده يا کوزده وه.
دا ځوان به کله نا کله د خپل خسر کره راتلی او د خپلې نامزادې سره به يې کيسې او خبرې کولې، پر هلک باندې خپله کوزده ډېره ګرانه وه او ډېره مينه يې ورسره درلوده، غوښتل يې چې واده وکړي، خسر به يې ورته ويل ته يو کال يا دوه کاله ودرېږه هلک د درېدو او صبر توان نه درلود ډېر خښمېدلی و يوه ورځ يې ماته وويل: چې ته زما د خسر سره خبرې وکړه، چې ماته واده راکړي، زه نور توان نه لرم چې ودرېږم، خسر ته مې دا خبره څو واره کړې ده، خو دی نن او سبا راته کوي، ځان راباندې چلوي يوه ورځ راته وايي دا کار راته وکړه بله ورځ راته وايي دا کار راته وکړه ان دا چې د خپلو چرګانو لپاره کوډلې راباندې جوړوي، زه نه پوهېږم چې څه وکړم.
بيا يې راته وويل: يوه و نيمه ورځ مې داسې عصاب خراب شي چې بايد مې ځان وژلی وي او يا به مې دوی ټول وژلي وای ما داسې فکر کاوه، چې هلک باټې وهي او ما ډاروي.

د دې خبرې څخه يوه ورځ وروسته زه ګنګو (تياره) ماښام کور ته راغلم چې ومې کتل کور مې محاصره دی، شا وخوا مسلح عسکر پر را ګرځېدلي دي، ما چې دوی وليدل هک پک شوم، چې دا به څه خبره وي ورنږدې شوم د يوه عسکر څخه مې وپوښتل چې دلته څه خبره ده؟

هغه راته وويل: په دې کور کې مړی شوی دی، بيا نو زه پوه شوم، چې زما د ګاونډيانو خبره ده، کور ته ورننوتلم پوليس په کور کې ګرځېدل زما څخه يې هم څو پوښتنې او ګروېږنې وکړې زه چې څومره پوهېدم هغه مې ورته وويل: کله چې مې د خپلې کورنۍ غړي وليدل دوی ډېر ډار شوي ول، ډېر وارخطا او هولکي سره ولاړ ول.

مېرمنې مې راته وويل: د لاندې همسايګانو زوم راغی توپنچه (توپنګچه) يې په لاس کې وه لومړی يې پر خپل خسر ډزې وکړې وې ويشت بيا يې خپله خواښې وويشتله، دريم ځل يې خپله نامزاده تر لاس ونيوله چې راځه راسره هغه نه ورسره تلله نو هغه يې په دهليز کې تر لاس نيولې وه، کشوله يې نجلۍ په يوه ديوال او بل ديوال ته پښې ورکړې نه يې غوښتل چې ورسره ولاړه شي، په پای کې يې هغه هم په ډزو وويشتله هغه ځای پر ځايه شهيده شوه مګر مور او پلار يې لا ژوندي ول هغوی يې روغتون ته بوتلل زوم يې په منډه د کوره ووت او وتښتېدی، د لاندې منزل دېوالونه کوم يو چې زما ګاونډيان پکې اوسېدل په وينو سره ول، مرمۍ تيت او پرک پرتې وې، يوه د ډار او وحشت فضا رامنځ ته شوې وه، ماشومانو مې ټولو ژړل او ډارېدل مايې پر سر لاس را تير کړ ډاډ او اطمنان مې ورکړ د ګاونډيانو هم درې ماشومان د ويرې سره ريږدېدل، هغوی مې هم خپل کور ته چې په دوهم پوړ کې و پورته کړل، ډاډ او تسليت مې ورکړ، يو څه موده وروسته يې د مور او پلار ټپونه ورغېدل بېرته کورته راغلل زوم يې پټ شو دوی بيا هم څو کاله نور زما ګاونډيان ول پر خپلو ناوړه کړو پښېمـانه ول، کوم چې د زوم څخه يې ناوړه ګټه پورته کوله مګر کار تر کار تېر و، څه ګټه

یې نه درلوده.

د ښاغلي باوري صاحب په غوښتنه غواړم، چې خپله کیسه چې اروپا ته موږ څنګه راغلو په لنډ دول سره ولیکم:
ګرانو لوستونکو! څرنګه چې ټول په دې باندې پوهیږي، چې اروپا ته راتګ ډېر یو ستونزمن کار دی ممکن یوکم تعداد خلک د کمو مشکلاتو په لیدلو اروپا ته راغلي و، مګر اکثریت خلک چې اروپا ته راځي حتی د مرګ تر کچې پورې په لار کې د مشکلاتو سره مخامخ کیږي.
زه هم غواړم، چې د خپل سفر په هکله تاسو ته یو څه ولیکم زه د نورو افغانانو په شان د وطن و پرېښودلو ته مجبوره شوم، په پاکستاني پاسپورټ باندې یو دوست دعوتنامه راته را ولیږله، او یو بل دوست بیا په پاکستان کې د روسیې سفارت ته راسره ولاړ او د روسیې د سفارت څخه یې د ویزې په اخیستلو کې راسره مرسته وکړه، خو په هر صورت سره د طیارې ټکټ مو هم واخیستی موږ دوه نفره وو، خو ډېر تشویش مو کاوه.
هغه په دې خاطر چې په میدان هوایی د کراچۍ کې ډېر جدي کنټرول وو، او زموږ یو ملګری چې په کراچۍ کې یې کور وو، هغه راته وویل چې یوه هفته مخکې د پخواني دولت یو چارواکی د کراچۍ د میدان څخه و مسکو ته تلی او پولیسو لخوا ونیول شو او اوس په بندیخانه کې دی نو موږ هم ډېر وارخطا وو، یو مو اردو نه وه زده او بل ډېر جدي کنټرول وو، خو په هر صورت په میدان کې د پولیسو له خوا نیول او بندي کېدل دا مو په سترګو لیدل.
د شپې پر یوه بجه زموږ پرواز وو، او موږ یو ساعت مخکې میدان ته راغلو موږ ډېر کوښښ کاوه چې خپل مورال لوړ وساتو او داسې وښیو چې موږ پاکستانیان یو خو د نیکمرغه تر ټولو تلاشیو څخه بې له کومه مشکله تېر سولو همدغه رنګه و طیارې ته وختلو او طیارې پرواز وکړ او وروسته له څو ساعتو څخه د مسکو میدان ته ورسېدلو زموږ روسي ژبه هم نه وه زده

خو دوستان میدان ته راغلي موږ کوم تکلیف په میدان کې ونه لیدی او موږ یې په موټر کې خپل کور ته بوتلو.

تقریباً یوه هفته مو په مسکو کې تېره کړه، د یوې هفتې په جریان کې زموږ هم ډېر فکر سم شو دوستانو مو سره ولیدل او قاچاقبر سره زموږ دوست خبرې وکړې، چې جرمني ته مو ورسوي، په دې وخت کې موږ څلور نفره شولو چې جرمنی ته ځو یو هم زموږ یو پخوانی استاد راسره شو، داچې په مسکو کې هوا ډېره سړه وه، نو زموږ دوست و موږ ته ډېر ګرم لباسونه، ګرمې موزې او ډېر ډبل جاکټان او ګرمې خولۍ راته برابرې کړې او یوه هفته وروسته د شپې له طرفه څخه یې موږ په دوو موټرو کې یو واګزال پورې راوستلو او په ټرین کې یې کښېنولو په ټرین کې مو شپاړس ساعته مزل وکړ او ټرین په یو تمځای کې ودرېد.

او د ټرین مؤظف نفر راغی او موږ ته یې د کښته کېدلو امر وکړ موږ هم کښته شولو دا داسې یو سرحدي منطقه معلومېدل او د سړک په بغل کې یو سیم خاردار تېر شوی وو داسې معلومېدل، چې دا د اوکراین سرحد وي، موږ هم په بېړه سره تر سیم خاردار را واوښتو او داسې د یوه کیلو مترو په اندازه به مو منډې وهلې وې، چې یو دوه ټکسیان ولاړ وو، او په دې موټرو کې کښېناستو تقریباً لس ساعته به مو مزل کړی وي، چې د موټرانو څخه کښته شولو او یو شخصي موټر ولاړ و، چې په هغه شخصي موټر کې کښېنستو چې موټروان یې هم یو افغان و، په دې موټر کې یې یو بلاک ته راوستلو او په دریم منزل کې یې په یو کور کې ننویستلو فکر کوم چې دا به کیف و په دې کور کې یو شپږ نفره هندوان هم و او د قاچاقبر دا هدایت و.

چې موږ د کوره څخه ونوزو او د کړکې، پردې باید همیشه کښته وي او غالمغال او یا په زوره ونه خاندو اوموږ هم کوښښ کاوه چې د قاچاقبر هدایت عملي کړو، تقریباً یوه هفته مو په دغه بلاک کې تېره کړه او موږ ډېر کوښښ کاوه، چې استاد راڅخه مریض نسي، او پر ده باندې به مو ډېر فکر کاوه ولې په

موږ کې دی ډېر سپینږیر و.

یوه شپه د شپې یوه بجه ده چې قاچاقبر راغی او موږ ته یې وویل چې را ووزی، چې حرکت کوو.

موږ په احتیاط سره د بلاک څخه راکښته شولو او لاندې موټر ولاړ و او په موټر کې یې کښېنولو، موټر تر یو ځای پورې په بازار کې روان و او وروسته په یو ځنګله کې موټر ننوتی داسې یو لس دقیقې به یې په ځنګله کې حرکت کړی وي، چې ګورو د ځنګله په مابین کې یو غټ ټیلر ولاړ دی او د شا له خوا څخه یو غټه ټیله چې کانټینر پر پروت دا هم پسې ټړل شوی دی، نو زموږ موټر یې راوستی د دې ټیلې وشاته یې ودراوه،توره شپه ده د لاس ګوتې نه معلومېږي.

د موټرانو څراغونه هم مړه دي، اول یې زه د موټر څخه راکښته کړم او د کانټینر دروازه یې خلاصه کړه، کانټینر ډېر جګ و ما پښه نه شوای ور پورته کولی، دوه نفره چې یو د کانټینر یوې خواته او بل یې بلې خوا ته ولاړ وه زه یې په دواړو پورته کړم لکه د اوړو بوجۍ و کانټینر ته یې ور وغوځولمما لا خپل لاس او پښه نه دي سره را ټول کړي، چې استاد یې پسې را وغورځاوه، او زما په نس کې ومښتی چرت مې وواهه چې اوس بل پسې را غورځوي ژر مې ځان یو بغل ته کړی ټوله یې د بوجۍ په شان و کانټینر ته را وغورځول په دې وخت کې استاد ماته وویل چې فلانی جانه ما خو د کورنۍ د غړو څخه د خدای په اماني واخیسته.

دا چې زه هم ډېر ورخطا وم استاد ته مې وویل چې نه استاده کانټینر سوریان لري هوا راځي ته تشویش مه کوه، مګر کانټینر هیڅ شی نه درلودی خو ما استاد ته ډاډ ورکاوه چې تشویش ونکړي، په دې کانټینر کې مو څلورویشت ساعته مزل وکړ خو دا ښه و، چې ژمی و، هوا ډېره سړه وه، که ګرمي وای حتماً به موږ په دې کانټینر کې له منځه تللي وای.

کله چې د کانټینرڅخه کښته سولو پښې مو ګنجلکې شوې وې او مخونه مو تک ژړ و، او پر پښو سم نشوای درېدلای.

سرونو مو درد کاوه صحي وضع مو ډېره خرابه وه، بيا يې په يوه موټر کې سپاره کړو، او يو کور ته يې راوستلو او يو درې شپې مو په دې کور کې وکړې لږ هوسا شولو مګر د کوره څخه نشواى وتلاى، درې شپې وروسته بيا د شپې يوه بجه وخت دى چې قاچاقبر راغى او موږ يې د کوره څخه راويستلو او په موټر کې يې کښېنولو نيم ساعت مو په موټر کې مزل وکړى او وروسته يې د يوه ځنګله په مابين کې خوشې کړو په دې ځنګله مو دوه ساعته مزل وکړ هوا ډېره سړه وه او د ځنګله په مابين کې ډېرى لوشې، ختې او ښاخلې وې او هم ډېره تاريکه وه، لاره هم سمه نه معلومېده، خو ډېر ستړي شولو په دې وخت کې قاچاقبر د ځنګله په مابين کې يو ځاى کښېنولو، که ګورو چې په دې وخت کې يو بل لس نفري ګروپ چې هندوان دي، دا هم د يوې بلې لارې څخه يو بل قاچاقبر راوستل او زموږ سره يې يو ځاى کړل.

بيا مو حرکت وکړ د شپې تر څلورو بجو پورې په دې ځنګله کې روان وو، زه خپله ډېر ستړى شوم په دې خاطر چې ما د پخوا څخه د پښې تکليف درلود، او پښې مې ډېر درد کاوه، په دې وخت کې قاچاقبر څه لاره ورکه شوه، او په ځنګله کې پر يوه کور برابر شولو چې دې کور سپى هم درلود، او سپى (غفا) شروع کړ، موږ هم بېرته شاته په منډه شروع وکړه، نيم ساعت به مو بېرته شاته ځغستلي وي په دې وخت کې يو غر مخې ته رالى او رښتيا سره چې ستړى هم وم، او پښې مې ډېر درد کاوه نور د تګ او ځغاستې حوصله هم پر مخ ختمه شوې وه.

بيا قاچاقبر پر يوه بله لاره بوتلو کله ځغلو او کله بيا ډېر چابک ځو، خو داسې يوستوي ليک په قاچاقبر پسې روان يو او ډېر بيرېږو چې قاچاقبر را څخه ورک نه شي، نوداسې چسپ پسې يو، او کله چې دا د مخ نفر تېر شي او دا ښاخله د شا پر نفر باندې راشي يا يې پر تندي ومښلي، يا يې پر سترګو ومښلي، سرى ډېر خوږوي، خو ټوله شپه مو مزل وکړ د سهار شپږ بجې دي، چې يوه پاخه سړک ته راورسېدلو او قاچاقبر بږغ وکړ چې

ډېر ژر او په ځغاسته باید د دې سړک څخه تېر شو، خو کله چې د سړک څخه تیریږو د لیرې څخه د یوه موټر څراغونه را ښکاره شول، په دې وخت کې قاچاقبر چیغې کړې ژر تر سړک نه واغوړئ او زه هم په عجله سره کوشش کوم، چې تر سړک واوړم د سړک په هغه بل طرف کې سیم خاردار دی مګر زه یې نه وینم چې پرمخې پر دې سیم خاردار باندې غورځار شوی یم تر سر مې لمبې ووتلې او نور د ولاړې څخه ووتلم، قاچاقبر چې و ماته وکتل چې زه پروت یم ژر یې رامنډه کړل، او زما لاس یې په خپله غاړه کې واچاوه او تر یو ځای پورې یې حرکت راکړئ، او ښه و تر موټره پورې لږ لاره پاته وه، سهار وختي و چې یو ځای یې په وښو کې پروت راکړئ زه خپله ډېر ستړی وم حتی په بندیخانې خوشاله وم، چې پولیس مې ونیسي، پښې مې پړسېدلې وې، او ټوله په وینو وې او ډېر درد یې کاوه، مګر استاد تر موږ ټوله ښه و، دلته چې موږ په دې وښو کې پراته و، د دې ځایه څخه یو سړک معلومېدی، چې پر دې سړک باندې د تیلو ټانک هم دی موږ یې وینو چې دوه موټران راغله او قاچاقبر پر موږ ږغ وکړی چې هغه موټرو ته ورځغلئ خو دغه ډېره لنډه لاره زما لپاره ډېره سخته وه ولې چې زما پښه د مخکې څخه نه پورته کېدل او ډېر درد یې کاوه خو په ډېر مشکل سره مې ځان تر موټر پورې ورساوه.

موټر تقریباً نیم ساعت مزل وکړ، چې یو کور ته یې راوستلو، موږ شپږ نفره افغانان او اولس نفره هندوان یې په یوه اطاق کې سره واچولو او د اطاق مخکې یې یو غټ سپی تړی، او د معضرت په خاطر یې یو سطل د اطاق په کنج کې راته کښېښوې او اطاق هم ډېر سوړ و، په اطاق یوه زړه ګدلئ چې ډېره خیرنه وه، ډېره ډبله وه دا مې پر ځان واچوله او ټوله بدن مې درد کاوه، خو تر هغې ګدلئ لاندې مې ښه خولې وکړې او بدن مې لږ شان سپک شو، قاچاقبر به موږ ته ډوډی راوړه خو موږ د بیرې څخه نه شوای خوړلی په دې خاطر چې تشناب نه و، په دې کور کې مو تقریباً یوه هفته په ډېر مشکله سره تېره کړه، دغه منطقه

د سلواک سرحد و، د اوکراين سره و، وروسته له يوې هفتې څخه د شپې دولس بجې وې، چې قاچاقبر راغی او موږ يې د اطاق څخه را ويستلو او په دوو موټرو کې يې کښېنولو او موټرو ته يې حرکت ورکړ.
په موټر کې به قاچاقبر دوام داره په تليفون کې خبرې کولې، د يو درې ساعته مزله وروسته قاچاقبر نابېره موټر په يوه ځنګله کې داخل کړ او موټر يې په ځنګله کې ودراوه او د موټر چراغونه يې مړه کړه په دې وخت کې دا موټر يو رقم وښوري، فکر کيږي لکه د ځنګله يو حيوان چې يې ښوروي موږ ډېر وارخطا شو او په خپل مابين کې مو سره وويل چې دا موټر ولې ښوري په دې وخت کې مو د يو سړي ټوخ تر غوږو شو هغه زموږ د نفرو څخه يې يو نفر د موټر په ټولبکس کې پريستلی دی، او موږ په خبر نه و او د هغه بېچاره نفس تنګ شي او بيا سره وښوري، خو نيم ساعته به په دې ځنګله کې درېدلي يو بيا مو حرکت وکړ د سهار شپږ بجې به وې چې بريتسلاوا ته ورسېدو او په يو تيلو ټانک کې يې د موټر څخه کښته کړلو په دې ټانک تيل کې يو نفر ولاړ دی په انګليسي موږ ته وايي چې تاسې خو مهاجرين ياست راکړئ اسناد يا پاسپورت موږ هيڅ شی نه درلود او ده خپل اسناد را وښوول چې دجنايي غړی دی، او موږ په واقعيت سره ډېر وارخطا شولو چې ګير يې کړلو بيا دا سړی راته وايي چې لس ډالره راکړی زه مو اطاق ته بيايم خو دا سړی د قاچاقبر سره ارتباط درلود او موږ نه پېژندی، دې سړي موږ راوستلو يوه کور ته چې په بلاک کې و، او په دې کور کې چې يو اطاق يې درلودی پنځه نفره افغانان د پخوا څخه په دې اطاق کې وه، او شپږ نفره نوي موږ ورته راغلو خو دا ځای بيا په مراتب تر پخواني ځای ښه و او تشناب يې هم درلود يوه هفته ورسته بيا هم د شپې يوه بجه ده، چې قاچاقبر راغی او موږ يې د اطاق څخه راويستلو او په دوو موټرو کې د يو رود غاړې ته راوستلو او دوی بادي کښتی يې د موټرانو د سره څخه راکښته کړې خو دوی کښتيانو ته هوا ورکوي هغه دا يوه کشتۍ سوري

ده هوا یې بېرته ووځي خير په دغو کشتيانو کې يې په ډېر تکليف سره چې هره دقيقه يې د هوا د وتلو او غرکېدلو احتمال و، خو به هر صورت د رود دا بلې غاړې ته را پورې وتلو، نور نو زموږ سره قاچاقبر نه و او قاچاقبر موږ ته وويل چې دا اطريش دی او تاسې دغسې مخامخ ځي بيا د اطريش سرحدي پوليس راځي او تاسې د مهاجرو کمپ ته وړي موږ دغسې وکړه نيم ساعت مو مزل وکړ د اطريش سرحدي پوليس راغله په موږ يې سلاوې ونيولې او دريش يې کړو تلاشي يې وکړه، تانې ته يې بوتلو شپه مو په تانه کې تېره کړه په سهار کې يې د مهاجرو کمپ ته واستولو.

څلور ورځې وروسته يو قاچاقبر راغی او موږ يې په موټر کې د کمپ څخه راويستلو او د اطريش مرکز ويانا ته يې راوستلو او هلته يې د ريل ټکټان راته واخيستل او دا يې راته وويل چې تاسې به په اخري سټاپ کې چې د جرمني و سرحد ته نزدې دی کښته شی، او بل نفر تاسو ته په سټاب کې ولاړ دی، او تاسو به رهنمايي کړي، موږ په ريل کې کښېنستو او ريل حرکت وکړ خو ډېر وارخطا يو چې پوليس مو ګير نکړي، او قاچاقبر هم راڅخه ولاړ موږ هم ټپ نابلده يو او بيريږو، چې تر ايستګاه تېر نسو خو ډېر په تشويش کې يو خو هغه استګاه ته را ورسېدلو او د ريل څخه کښته شولو د شپې دوې بجې شاوخوا ده ووينې او کمک راسره وکړي، مګر څوک مو پيدا نکړي اخر مو هغه قاچاقبر ته چې موږ يې په ريل کې کښېنولو تليفون وکړ هغه په جواب کې راته وويل چې تاسې د پوليسو تر تعقيب لاندې ياست، نو هغه نفر نشي کولی چې تاسو ته در نيږدې شي، او تاسې د ريل سټيشن څخه دباندې ووزئ بيا هغه نفر ستاسو سره کمک کوي او تر يو ځای پورې مو رسوي موږ تر هغه ډېر وارخطا شولو چې موږ د پوليسو تر تعقيب لاندې يو خو د ريل سټېشن څخه دباندې ووتلو د شا د خوا څخه يو موټر را پسې راغی او موږ يې په رفتار کې يو يو موټرو ته ور پورته کړو او يو کور ته يې بوتلو او درې شپې مو په دې کور کې وکړې درې شپې

وروسته قاچاقبر په خپل موټر کې کېښېنولو او د جرمني مونش پآر ته یې رواستلو او استاد راته وایي چې دا د مونش پولیس ډېر خطرناک دي، داسې چې دلته ګیر شو خو ډېر وارخطا یو یوه شپه مو په مونشن کې تېره کړه سهار مو د هامبورګ د ریل ټکټ وکړ او هامبورګ ته بې له کومه جنجال څخه ورسېدو په هامبرګ کې مو لس شپې د یوه شناخته سره وکړې او هغه شناخته یو قاچاقبر راته پیدا کړی، چې موږ ډنمارک ته ورسوي د شپې یوه بجه وه، چې په دو موټرو کې چې د یو موټر موټروانه ښځه او د بل موټر موټروان نر و.

دا ښځې موټروانې وویل چې اجمل او خان محمد دې زما سره ولاړ شي په دې خاطر چې کوچني وه او بیا په سرحد کې دی په تولبکس کې د موټر اچول او موږ څلور نفره زه استاد او دوه نفره نور نابلده د نارینه موټروان سره کېښېنستلو دلته د استاد بکس د ښځې په موټر کې پروت او د خان محمد د کالو بکس زموږ په موټر کې پروت دی، استاد ماته وویل چې زما بکس په هغه بل موټر کې دی، ما ورته وویل چې خیر دی خو بې له هغه څخه هلته په دنمارک کې سره یو ځای کیږو خو موټرانو حرکت وکړ خو کوم وخت چې موږ د دنمارک سرحد ته ورسېدلو اجمل او خان محمد دوی چې د ښځې په موټر کې وه را څخه ورک سول، او موږ یې په یو ځنګله کې په سرحد کې کښته کړو او قاچاقبر مو یو سریلانکایي و، قاچاقبر د مخه دی موږ پسې یو چې د جرمني سرحدي؟؟؟؟؟

# ۴۹ ساعته په کېښتۍ کې د مدیترانه پر لارې

یوه ځوان ۲۵ نمریزې د اتو میاشتو مړ روی په ملا پورې تېنګ تړلی وموندل شو او مېرمن یې څو اوونۍ مخکې مړه موندل شوې وه.
د پنځوسو تنو لپاره کېښتۍ تر سلو ډېر کسان سپاره هغه هم واړه او زاړه ښځې چې د ځوانانو هم لامبو یاده نه وه، تشناب په دې به مو اندېښنه کوله، چې زموږ مړی او ژوندی به ورک شي.
قاچاقبر هم نه و راسره ډوډۍ او اوبه نه وې لاره به راڅخه ورکه شوه تر څلورو زرو ډېرو خلکو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.
قاچاقبران ډېرې نرمې او چرلې وعدې ورکوي، چې په دوه اونیو کې مو جرمني او نورې اروپا ته رسوو.
په کانټینرو کې د هوا د نشتوالي له کبله په سلګونه کسان مړه شوي دی.
په لاره کې د ځوانانو ډول ډول استفاده کیږي.
په دې کلونو کې لس زره ماشومان ورک دي.
د لارۍ په انجن ناست وي.
د وجود او نس پوست یې شړېدلی وي.
هیله مو دا وي چې اروپا ته ولاړ شو هلته موږ او زموږ ماشومان زده کړې وکړي.
سیالي او هم چشمي هم ده.

# قسم به خداوند حضرت پلنګ

چند روز قبل با شخصي در مسیر تخار همسفر شدم، مرد خوش مشرب و خوش حکایتی بود، با چند قصه ی کوتاهش در دلم راه یافت.

این دوست جهان دیده و شیرین بیان، هنگامی که در هوتلی در سالنگ شمالی نان می خوردم گفت:

در سال های که در افغانستان حکومت های محلی جای حکومت مرکزی را گرفته بودند و در هر روستا یک حکومت مستقل بیداد می کرد، با یک تکسی غرازه از تالقان به سوی مزار شریف حرکت کردم در چوکی اول یعنی همانچوکی کنار دست راننده من نشستم و در چوکی پشت سر راننده یک پیر مرد با دختر جوان چادری قرار گررفته بود.

حوای چاشت از سه راهی مزار شریف در شهر پلخمری به سمت دهنه ی غوری حرکت کردیم و هنوز چند دقیقه راه نرفته بودم که به یک پوسته ی تلاشی یا به قول مردم شهید پرور افغانستان به یک پاتک رسیدم.

پهره دار که موهای کشال و ناشسته و سر و وضع مشابه به نیاندر تال داشت، موتر را امر توقف داد و از راننده پرسید:

این دختر را از کجا اوردی؟ راننده گفت: از تالقان اوردم این پیر مرد، پدر نامزدش است، نامزدش در مزار شریف زندگی می کند پدر و مادر این دختر بیچاره چند روز قبل در بمبار طیاره های دولت کشته شدند، به همین خاطر او را می برند مزار شریف که عروسی کند و از در بدری خلاص شود.

پهره دار خندید و گفت: صد دالر می دهی یا این دختر را ببرم پیش پلنگ که بخوردش؟ پیر مرد با تضرع گفت: صد دالر ندارم تمام دار و ندارم بیست هزار افغانی است (در آن زمان صد دالر معادل یک صدو بیس هزار افغاني بود) همین بیست هزار افغانی را بگیر و اجازه بده برویم. پهره دار با خندهگفت: بیست هزار افغانی تنها حق من می شود هله همه ی تان زود پایی شوید و به دنبال من بیایید. بی چوږن و چرا از تکسی پایی شدیم و به دنبال ان لندهور داخل حویلی خرابه یی شدیم که روزی یکی از مراکز سمنت غوری بوده است.

وقتی داخل حویلی شدیم در کنار یک حوض، چپرکتی را دیدیم که مردی لحافی را روی خود کشیده و روی آن خوابیده بود، وقتی

به چپرکت نزدیک شدیم پهره دار جریان گفت و گویش با پیر مرد را به آن شخص که نام مستعارش پلنگ بود، حکایت کرد پلنگ با خشمی وحشیانه لحاف را از رویش دور انداخ و خیز برداشت و با تن عریان در برابر چشمان ترس وحیرت زده ی ما قرار گرفت و گفت: اگر صد دالر پیدا نکنید و جیب مرا راضی نکنید به خداوند حضرت پلنگ قسم است که همین حالا در پیش چشم شما بکارت این دختر را می پرانم و دست همه ی شار را قطع می کنم وقتی دیدیم این پلنگ در این مسلک شخص با تجربه یی معلوم می شود، از ترز ابرو و ریزی مجبور شدیم که تمام دار و ندار مان را روی هم بگذاریم و به پلنگ بدهیم و عفت آن دختر سواگوار و یتیم را نجات بدهیم وقتی با سرهای کشال از دروازه ی آن خانه ی جهنمی بیرون می شدیم پلنگ با خنده تمسخر آمیزی گفت: خوش نباشیدکه به خاطر این صدر دالر این زن از دستم خلاص شد اصل گپ این است که من حوصله و انرژي ندارم چرا که نیم ساعت پیش یک دختر کاکه و نلغه را در همین چپرکت در پیش چشم پدر و مادرش مانند سیب نوش جان کردم.

# افغان سفير په پاکستان کې

د بې نظير بهټو د صدر اعظمی په وخت کې زموږ سفير په اسلام اباد کې مسعود خليلي نومدی د محترم خليلي صاحب زوی و، د دې سفير لپاره يو لوی او شانداره محفل نيول شوی و.
چې په هغه کې ډېرو لوړو کسانو لکه پخپله بې نظيره د پاکستان د ای اس ای(I.S.I) د ادارې مشر خارجه وزير او داخله وزير مېلمانه ول.
د مجلس په جريان کې بې نظيرې مخ و محترم خليلي صاحب ته ور اړولی و ورته ويلي يې وه، چې راکه لاس دې د هغه لاس يې په خپل لاس کې نيولی و، ورته ويلي يې ول،چې يوه خبره درته کوم که يې منې؟
سفير صاحب ورته ويلي ول چې هو منم يې.
چې بيا هم درته وايم که نه نو هيڅ نه درته وايم.
مسعود خليلي ورته ويلي وه، چې زما په وس او توان وي هرو مرو يې منم راته ووايه!
بې نظيرې ورته ويلي وه، چې په کابل کې د هند سفارت وتړئ او سفير ته يې ځواب ورکړئ.
خليلي صاحب ورته ويلي وه، چې ډېره ښه خبره ده، د دې لپاره به ښه مراسم ونيسو د کابل او اسلام اباد دواړو ځايو څخه به د هند سفيران ځواب کړو او سفارتونه به يې ور وتړو.
دا خبره چې يې ورته کړې وه په دوی ټولو غوږونه ځړېدلي ول.

# د مهاجرت لامل او ستونزې

تاسو ټول هیوادوال پوهیږي، چې د مهاجرت اصلي او بنسټیز لامل په هیواد کې نا امني، بې کاري، لوږه او داسې نور دي.
د هرات ولایت ښځه په نامه د غلاف فاروف سروش وایي زما اقتصادي حالت هم ښه و زه یوازې او یوازې له دې سببه مهاجرت ته مجبور شوم، چې د هرات په ولایت کې بې امني بیخي ډېره شوه، په دې ووېرېدم چې اولادونه مې را ښځه برمته نه کړي.
د اکتوبر پر ۲۸ نېټه مې هیواد پرېښود لومړی ایران او بیا ترکیې ته ولاړم سره د خپلې کورنۍ.
لومړی زما ورور د څلورو زامنو سره په سفر پیل وکړ کښتۍ یې ډوبه شوې وه، ده په لامبو تر هغه وخته پورې چې بله کښتۍ د مرستې لپاره ورته راځي، د اوبو پر سر ځان ساتلی و مګر مېرمن او څلور زامن یې تر اوسه پورې ورک دي.
سروش د رادیو سره په مرکه کې وایي چې قاچاقبران په خپلو لومړیو خبرو کې اروپا ته د رسېدلو ډېر ښه او اسانه امکانات درته ښیي مګر ځرنګه چې دوی وایي هغسې نه ده ډېرې ستونزې آن دا چې د مرګ تر پلې پورې په لاره کې موجود دي.
بل سړی د غفور په نامه هم خپل داستان د سروش داستان ته ورته خو تر هغه هم بوږنوونکی داسې بیانوي:
ده وویل موږ د کورنۍ لس تنه چې زه او پنځه کلن زوی امیندواره مېرمن د امیندوارۍ یې اتمه میاشت نور مې د تره زامن راسره ول.
موږ هم لومړی ایران او بیا ترکې ته ولاړو، قاچابرانو ځانونه ډېر صادق او خواخوږي معرفي کول، په ترکیه کې زما یوه خورځه وه، هغې راته وویل ته ودرېږه، چې کوچنی دې پیدا شي بیا ولاړ سه دا وخت ستاسو د سفر نه دی، ما له دې امله نه ورسره ومنله چې په هغه وختو کې په اروپا کې مهاجر په ښه ډول سره منل کېدل ما فکر کاوه، چې وخت باید د لاسه ورنکړم، بل د مهاجرت علت او سبب سیالداري هم وه، ځینو دوستانو چې

ځان اروپا ته رسولی و، موږ په خپلو کې سره ویل چې باید تر هغو وروسته پاته نه شو نو پر کډه مو لرګی کېښود.
په ترکیه کې قاچاقبر د هر تن پر سر دوه ویشت سوه یورو (۲۲۰۰) راڅخه واخیستې په یوه بادي کښتۍ چې (۲۲) تنو لپاره وروستنی امکان لري موږ یې (۲۴) تنه پکې سپاره کړو، دوی د وېرې نه راسره تلل.
چې ونه نیول شي، د کښتۍ چلول یې موږ ته راوښودل، اوبه او هوا هم سره وه راته وویل چې شپږ میله یا نیم ساعت لاره ده، د غفور یوه خور په لندن کې ژوند کوي، هغې ورته ویلي وه، چې مه راځۍ زه به ستاسو د ژوند لپاره یوڅه پیسې مرسته درسره کوم مګر غفور د هیچا و خبرې ته غوږ نه نیو، ویل یې خدای یو مالګې تروې چې زه به اروپا ته ځم.
کله چې دوی ټول په کښتۍ کې سپاره شوي وه، چې کښتۍ د سیند منځ ته ورسېده ماټو (کښتۍ وان) هم راسره نه و هر چا به په خپل سر د کښتۍ دریوري کوله په پای کې یې کښتۍ ډېره چابکه کړه، کښتۍ یې د شا د خوا څخه اوبه راواوښتې ما خپل کوچنی زوی په غېږ کې ټینګ ونیوی زما د کورنۍ لس تنه واړه او زاړه زما د مېرمنې په ګډون ډوب سول زه ورته ګورم زه هم په یوه لس لامبو وهم او په بل لاس کې مې زوی نیولی دی.
زوی مې راته وایي بابا څه کوې؟ لامبو وهې؟ زه ورته وایم هو زویه لامبو وهم اوبه سړې وې زوی مې راته وایي بابا ساړه مې کیږي د سړو اوبو له کبله مې زوی تک شین شو بې هوښه شو زما په توان کې هم هیڅ نه وه، زوی مې را څخه بېل شو اوبو ډوب کړ راڅخه ورک شو څو دقیقې وروسته بېرته زما و مخې ته مړ راپورت کړ.
غفور نامي خپلو خبرو ته دوام ورکوي وایي:
ته پخپله سوچ وکړه، چې زما به نو څه حالت و امیدواره مېرمن د تره زامن سره د خپلو بچیانو او زما نازولی زوی ټول یې راڅخه ډوب کړل، یوازې څو دقیقې زه د اوبو پر مخ د لامبو په مرسته پاته شولم څو چې یوه وړه کښتۍ چې پولیس پکې سپاره

وه را ورسېدل زه يې يوازې وژغورلم مېرمن، د تره زامن او بچيان يې يو يو د اوبو څخه مې راکيښل.

يوه خبره دې پاته نه وي چې ما په دې خاطر هم بېړه يا تلوار کاوه چې ما ويل کوچنی به مې په اروپا کې پيدا شي د هغه په برکت به موږ هم ومنل شو.

بيا يې نوموړی بېرته ترکيې ته يوووړل هر مړی يې بيا به دوه سوه ډالره تر کابل پورې راسره شول.

دا دی د غفور د مهاجرت لنډ داستان اوس دی يوازې په کابل کې ژوند کوي، ويل کيږي، د شپې له خوا څخه دا ډول ژړا او انګولاوې کوي لکه د يوه حيوان ولې چې هر څه يې له لاسه ورکړي ول، کور، فرش، ظرف يې هم ټول خرڅ کړي ول اولادونه او مېرمن يې هم په هغه بوړنوونکي ډول د لاسه ورکړل سره د تره د زامنو اوس دسترس يا تشويش په ناروغي اخته دی.

# د مذهب پالیسي

غربي پرمختللي هیوادونه ټولو مذهبي مقدساتو او مذهبو لپاره ډول ډول پالیسي چې د هم هغې پالیسي له مخې د هر هېواد اوخلکو سره چال چلند کوي، او د هم هغې ټولنې احساسات د دوی د مذهب له لارې په خپله ګټه پکار اچوي.
ځانونه د هم هغې ټولنې په نظر داسې ښکاره کوي، چې دوی د زړه له کومې د دوی عقیدې او مذهب ته درناوی لري، حال دا چې د دوی کړنې یوازې او یوازې دوی ته دوکه ورکول دي.
د مثال په توګه:
د هندوستان په پلازمینه دهلي یا ډهلي کې په یوه ګڼه ګوڼه بازار کې څو غوایان د لار پر سر پراته وه لاره یې بنده کړې وه یو هندو لګر را واخیست چې غوایي د لارې د سر څخه ولاړ کړي په دې وخت کې یو غربي دیپلومات د لارې څخه تېرېدی موټر یې ورته ودراوه او ورکښته شو هم هغه غوایي یې هر یو بېل بېل پر تندي مچ کړ او دواړه لاسونه یې د درناوي په توګه ورته پورته کړل لکه دی چې هم یو مذهبي هندو وي، او غوایو ته عقیده او احترام لري.
بیا یې نو هغه سړي ته چې لرګی یې پر غویو پسې راخیستی و، دوه درې سوه ډالر ورکړل ورته وویل خیر دی یوځه وخت وروسته دغه غوایي پخپله ولاړېږي ته کار مه په لره، خلکوچې د دې دیپلومات دا عمل او کړنه ولیدله احترام یې ورته څو ګرایه (چنده) سوه، دوی داسې سوچ کاوه، چې دا احترام د زړه د کومې څخه دی نه د پالیسي د مخې بله ببلګه:
زوړ اندیوال چې د مجاهدینو په منځ کې یو لوړ پوړی چارواکی و ماته وویل د جهاد په وختو کې موږ ته غربي کسانو دا چې د کوم هیواد و نه په پوهېدلو د ترجمان له لارې راته وویل «تاسو ډېر تکړه مسلمان یاست...
په رښتیا سره چې ستاسو عقیده او باور پر اسلام حقیقي او

ربښتياني دی، موږ ستاسو سره ډېر نژدې يو ولې چې موږ هم کتاب لرو او پاک خدای منو.يوازې لارې مو سره بېلې دي، مګر روسان چې دي دوی بيا هيڅ کتاب او هيڅ ډول عقيده نه لري، نو تاسو بايد د دوی په مقابل کې کلک جهاد وکړی موږ ستاسو سره ولاړ يو مرستې او کومکونه درکوو.

بيا يې نو د خپلو موټرانو څخه څو بوجۍ راکښته کړې هر قوماندان ته يې دوې دوې بوجۍ ورکړې، زه ډېر خوښ شوم چې ممکن ډېر ښه شی به وي، کله چې مو بورۍ يا بوجۍخلاصې کړې، کليمې او د قران شريف ايتونه پر غټو غټو او پنډوکاغذو ليکل شوی وه، راته وويل دا ډېر د برکت شی دی، تاسو هيڅکله پريشانه راځي او تل به مو برياوې په برخه وي ما هم هلته د ځان سره دا سوچ وکړ، چې داسې ده نو دوی ولې پخپله نه مسلمانان کيږي.

يوه قوماندان په ډاګه دا خبرې وکړې يوه اونۍ وروسته دا قوماندان د ناڅرګندو سړو له لارې په شهادت ورسېدې بيا نو ماته بيخي جوته سول، چې زموږ د نيکو او ښو احساساتو څخه د ځان په ګټه کار اخلي هيڅ مې هم نه شوای ويلای زړه نا زړه او ټکنی وم چې څنګه وکړم د پردي په لاس پيل شوي جهاد ته ادامه ورکړم که څنګه د هيواد ټول ګټې ځايونه لکه لارې، پلونه، ښوونځی، روغتونونه او نور دولتي موسسات وران او وجاړ کړو که نه مګر موږ ورسره ګروګان و بله لاره او چاره مو نه درلوده بايد خپل بې مانا جهاد ته مو ادامه ورکړې وای او دا کار مو هم وکړ، په پای کې قوماندان هم په شهادت ورسېد.

نوم، ادريس د شهادت نېټه او زما سره د کورنۍ اړيکې هم زموږ د سيمې ټولو خلکو ته ښکاره دي.

زه خپل ورور داود شاه دريادوم.

# د قانون مراعات

دوه ډاکتران ول، دوی په خپلو منځو کې شخصي دښمني سره درلوده، دوی دواړو په یوه روغتون کې دنده دلوده، یو بل یې ښه نه ایسېدل په ډول د ډولو یې غوښتل چې یو بل ته زیان او تاوان ورسوي، دوخت په تېرېدو سره یو یې د هم دې روغتون رئیس وټاکل شو.

د هغه بل ډاکتر بیا بېره او ډار ځو ګرایه شو ولې چې هغه د ده دښمن ډاکتر چې اوس د روغتون رئیس دی، کولی یې شوای هر ګړئ ده ته زیان ورسوي.

یوه شپه دا ډاکتر نوکري درلوده په همدغه شپه یو ډېر لوړ پوړی چارواکی چې ناروغ و په هم دې روغتون کې له منځه ولاړ سهار بیا د دې ناروغ له منځه تللو په هکله یوه لویه غونډه جوړه شوه د دې غونډې مشرتوب هم د روغتون د مشر پر غاړه شو، هغه ډاکتر چې د ده دښمن او د شپې چې هم نوکري تېره کړې وه، ډېر وارخطا او هولکی و له دې کبله چې د روغتون رئیس چې د غونډې رئیس هم دی، ده ته سخته سزا ورکړي کله چې په غونډه کې خبرې پیل شوې، دا ډاکتر له ویرې څخه بیخي ریږدېده چې درونډ مسولیت او ګرمتیا به یې ور ترغاړې شي.

کله چې رئیس د غونډې د ګډونوالو خبرې او بیان واورېدی، د غور او هوډ (تصمیم) نیولو لپاره پورته شو ډېرې علمي خبرې یې وکړې، ویې ویل کله چې ما د دې لوړ پوړي چارواکي درمل درملنه او رپوټ ولیدل په دې کې د ډاکترانو هیڅ ډول ګرمتیا او لتي نشته دوی خپل زیار او کوښښ کړی دی، او څه چې یې په توان کې وه، هغه هڅې یې کړې دي، د ناروغ د ناروغي درملنه نوه ممکنه نه وه نو زه د شپې نوکریوالان ټول بې ګناه بولم په دې خبره د ده اصلي رقي او دښمن ډېر خوښ شو او ښه یې پر ځای شوه جرئت یې وکړ پورته شو و رئیس ته یې وویل کور

دې ودان او زوی دې لوی خدای دې ښه درسره وکړي.

رئیس په خوب کې ورته وویل ته مه خوشاله کېږه زه هغه دښمني چې ستا سره لرم هغه پر ځای ده مګر په دې جریان کې ستا په هکله هیڅ ډول ګرمتیا ما ونه لیده نو ځکه مې ګرم ونه بللې ماته قانون ډېر محترم دی د قانون مراعات ماته تر هرڅه د احترام او قدر وړ دی د قانون له مخې ما ستا سره هیڅ ډول مرسته نه ده کړې.

یوازې او یوازې قانون مې په نظر کې نیولی دی، نو ته زما هیڅ ډول کور ودانی باید ونه کړې، نوره نو زما او ستا دښمني پر ځای پاته ده ځکه چې هغه یو شخصي دښمنی ده او دا رسمي کار دی.

دا چې د روغتون رئیس خپلې ځانګړې او شخصي ګټې د ملي ګټو څخه بېلې کړې وې، دصفت او تقدیر وړ دی.

لیدلي به مو وي تر نن ورځې پورې ډېرو قوماندانانو او لوړ پوړو چارواکو خپلې شخصي ګټې تر ملي ګټو لومړی او ښه بولي ځینو کسانو خو آن دا چې د خپلو ځانګړو ګټو له امله خپل هیواد د خطر او پلورلو سره مخامخ کړی دی.

که یې نومونه او نښې ولیکم پر ډېرو خلکو بده اغېزه کوي، اګر چې تاسو یې پېژنئ په فیس بوک کې مو پخپله د دوی بدي کارنامې لیدلي دي.

د پردیو اجنټان او غلام کېدل خو عادي خبره ده ولې چې د دوی جیب ته به یو څه راتلل د هیواد او خلکو غم به هیڅکله ورسره نه و، مګر په دوی کې که چا سالم او روغ وجدان درلود هغه وجدان دوی پخپله محاکمه کړي دي د خلکو محاکمه که په ژوند وي یا مرګ هغه لا ورته ګوري.

# ښه وکړه او په دریاب کې یې واچوه

متلونه ټول ښه مفهوم پند او نصیحت لري په تېره دا متل چې ټول انسانان و نیکو او ښو کړنو او اعمالو ته رابولي زما یو

ملګری دی، چې اوس دلته په لندن کې ژوند کوی.
دا ملګری مې اصلاً د کندهار دی مګر په کال ۱۹۹۲ کال کې د کابل په خوشال خان مېنه کې دوکاندار و، هغه د هغه وخت داستان داسې راته پیل کړ.
وویل: زه په ۱۹۹۲ کال کې د خپلو بچیانو سره یو ځای په کابل کې د خوشال خان مینې په سیمه کې اوسېدلم او هلته مې د هراتي سرای و اړخ ته دوکانداري کوله، زما شا وخوا ډېر هزاره ګان اوسېدل ټولو به ماته کندهاری کاکا یا کاکو ړوغ کاوه ډېرې ښې اړیکې مو سره درلودې د هغه ځای وکیل علي نومېده په ونه ټیټ او پوخ سړی و، ما به تل خوراکي توکي لکه هګۍ، چای و بوره، وریجې او نور شیان چې په هغه وخت کې ډېر لږ وه په بازار کې نه پیدا کېدل ما به ورته ساتل او ورکول به مې ګټه مې ډېره نه پر کوله، هګۍ، غوړي، قروت به د وردګو څخه راته راتلل ما به بیا پر دوی پلورل.
وکیل صاحب به راته وویل ماته دغه شی وساته ما به هم هغه ورته ساته، بیا به مې ورکاوه.
ډېر راڅخه خوښ و، په دې وختو کې د سیاف د ډلې او هزاره ګانو ترمنځ سخته جګړه ونښته دواړو لورو به حق او ناحق بې ګناه انسانان نیول او وژل به یې.
زما د کور سره نزدې یوغټ سرای و په هغه کې ډېرش څلویښت تنه هزاره ګان بندیان ول، زه ورغلم هغه چا چې دوی یې بندیان کړي ول ورته ومې ویل ماته اجازه راکړه چې یو څه چای او ډوډۍ دې بندیانو ته ورکړم، هغو هم راسره ومنله بیا نو ولاړم دوه غټ چایبرونه مې درلودل هغه مې د چایو څخه دک کړل توده ډوډۍ مې هم راسره واخیستله دوه کیلو بوره مې هم د ځان سره یووړه ودې بندیانو ته مې ښه چای او ډوډۍ ورکړله.
دوی ډېر خوښ شول او ډېرې دوعاوې یې راته وکړې وې ویل چې دا دوې ورځې موهیڅ شی نه وه خوړلي په دې بندیانو کې زه هم یو ونیم چا پېژندلم بیا یې راته وویل چې ته دوی ته ووایه چې موږ خوشې کړي ما هم د دوی په غوښتنه هغو کسانو ته

چې دوی یې بندیان کړي ول وویل دوی خو بې ګناه دي هیڅ جرم یې نه دی کړی، دوی راته وویل دوی او د دوی ملګرو ډېر پغمانیان او کندهاریان وژلي دي، ما ورته وویل پاک خدای هم د یو چا ګناه بل څوک نه نیسي نو دوی هم بې ګناه دي باید خوشې شي.

زما دغه خبرې دوی اورېدلې وې ډېر راڅخه خوښ ول.

د هغوی څخه نیم خوشې شوي ول، او نیم نور یې بیا د جنګ او جګړې په جریان کې له منځه تللي ول.

بیا نو دا سیمه هزارګانو ونیوله زه هم د ډاره هغې سیمې ته نه شوای ورتلای.

بیا نو زما کوچنیان هغه علي وکیل تر خیرخانې پورې را رسولي ول، هلته یې زما د یوه دوست کره ور وستلي ول.

زه او کورنۍ مو څو ورځې سره ورک وو، ما فکر کاوه، چې دوی به مړه وي دوی بیا داسې فکر کاوه چې زه به مړ یم، کله چې مو سره پیدا کړه لکه نوي چې زیږیدلي یو، ولې چې کله بېرته هزاره ګانو سیمه ونیوله کور په کور ګرځېدل د کندهاریانو او د پغمانیانو د خلکو کور چې به یې وموند، تر لوی او کوچني پورې به یې ټول له منځه یووړل یوازې زما کور چې د دوی وکیل بیخي پیره دار پر درولی و، پاته و، او بس ډېرې بدې ورځې مو تېرې کړې زما د کور کالي او لوښي ټول یا چور شوي ول او یا ټوټه ټوټه شوي ول بیا مې وکیل ته وویل زه مجبور یم چې بیخي هیواد پرېږدم، هغه راته وویل ته هیڅ تشویش مه کوه ستا کورنۍ به تر خپلې کورنۍ ښه او با عزته وساتم.

ما ورته وویل چې نه نور نه کیږي،چېرې به ته تل په ما پیره دار یې، راته یې وویل: نور څه خدمت کولی شم؟ ما ورته وویل: پاسپورټونه راته واخله په هغه وختو کې د پاسپورټو اخیستل ډېر ستونزمن کار و، خو ده په پنځلس ورځو کې راته واخیستل چې هر څه مې وکړل پیسې یې هم نه دي راڅخه اخیستې ډېر نیک او شریف سړی و نورو هزارګانو چې زه پېژندم ډېر یې په

درنه سترګه راته کتل زما د لږ مرستې پر ځای يې ځو ګرايه زما قدر کاوه ماته دا په اثبات ورسېدله چې د ښو په مقابل تل ښه در رسيږي، او د بدو په بدل کې بد تر هغه نه وروسته د کورنۍ سره پاکستان ته مهاجر شوم او دهغه ځای څخه بيا لندن ته ځان را ورساوه او اوس د ادی دلته ژوند کوم، او د ځان سره داسې سوچ کوم، چې دا زما د هغه ښو اخلاقو، انسانيت، مرستې او خلکو ته بې له توپير په احترام کتل د دې نتيجه سوله چې دا دی اوس په لندن کې د خپلو بچيانو سره په ارامه ژوند کوم.

# د یوه بندي داستان

د دې بندي هغه وخت سد سر ته ورغلل چې کار تر کاره تېر و، دا بندي جليل نومېده، د ارزګان د ولايت د تيرې او د هراود د ولسوالۍ و.
دی د کندهار ولايت په محبس کې بندي و خپله کيسه يې و خپل يوه دوست ته په اصلي او حقيقي ډول بيان کړې وه، هغه دوست يې اوس دلته په لندن کې اوسېږي هغه بيا د جليل د خولې بيان ښه ټکی په ټکي ماته بيان کړ او دا دی زه يې تاسو ته ليکم.
جليل ويلي وه، کله چې زه کوچنی وم زما د تره لور چې هغه هم د درو کالو وه ماته په نامه کړې وه، زه به په هغه وخت کې د پنځو کالو په شا وخوا کې وم.
اصلاً د کوچنيوالي کوزده چې د هلک او نجلۍ په خوښه او رضايت سره نه وي او دوی هم خپل قانوني سن ته نه وي رسېدلي د دې ډول کيسو سره مخامخ کيږي.
کله چې زه د خپل د تره د لور سره نامزاد کړم زما پلار او تره دواړه ژوندي ول، کله چې موږ ځوانان شولو زما پلار او تره دواړه مخکې له دې چې موږ واده وکړو وفات شول.
زما د تره درې زامن يوه هم دغه لور زما کوزده او د هغې مور وه، دوی ښه شتمن ول ځمکه او پټي يې درلودل.
زه بيا د پلار يو زوی وم او يوه خور مې درلوده، چې هغه هم واده شوې وه، موږ يوه ټوټه ځمکه درلوده او بس نور څه مو نه درلودل.
کله چې زه د شلو کالو په شا وخوا کې شوم د تره د زامنو څخه مې د واده غوښتنه وکړه دوی وويل موږ به مشوره سره وکړو يوه مياشت وروسته يې احوال راکړ، چې دا د کوچنيوالي خبرې دي، په دې پسې نور سر مه ګرځوه او د دې غوښتنې څخه لاس پر سر سه زه حيران او هک پک پاته شوم، چې دوی اوس څه وايي ولې چې نجلۍ خو د کوچنيوالي څخه زما په نامه وه، کور

او کلی ټول راباندې خبر ول.
بیا مې نو مرکې پر وکړې سپین ږیري مې ورولیږل، سیدان مې ور ولیږل ټولو ته یې د نه ځواب ورکړی و.
بیا مې ښځې ور ولیږلې هغو ډېرې زارۍ او عذر ورته کړی و، چې دا واده په لاس راکړي مګر دوی ټول راته پر نه داد کښېناستل، دوی داسې فکر او سوچ کاوه چې ډېر غریب او یوه زری سړی دی، هیڅ یې د لاسه نه کیږي، خپل ځانونه یې زورور او زه یې کمزوری بللم نو ځکه یې نه غوښتل چې خپله خور ماته را واده کړي.
ما چې هر څومره سوچ او فکر د ځان سره وکړ، بله لار راته پاته نه وه، یا به مې کلی او وطن خوشې کولی او یا به مې د تره زامنو څخه د دې عمل کسات اخیستلای.
بیا مې لا یو بل کار هم وکړ هغه دا چې خپلې کوزدې ته مې احوال ورکړ چې راځه راسره وتښته...
په لومړیو وختو کې د دې خوښه وه چې راسره وتښتي مګر یو څه موده وروسته یې بیا نظر ور اړولی و، او نه یې غوښتل چې راسره وتښتي.
کله چې مې د کوزدې منفي ځواب واورېدی، ځمکه راباندې سره تبې سوه په ځان هیڅ نه پوهېدم شپه او ورځ مې په سوچونو کې تېروله، کلي او کور ته چې به مې وکتل اندیوالانو او همزولو ته چې به مې وکتل داسې فکر او سوچ به مې کاوه، چې ټول زما په باره کې خبرې کوي، زه به د هیڅ چا پر مخ نشوای ورتللای زموږ د غلط او منفي دود سره سم مې ځان پر کړم او اسکېلی ګڼی، نو مرګ مې تر ژوند بهتره وګاڼه نو پریکړه مې وکړه، چې دوی ټول له منځه یوسم یوه غټه او تېره چاړه مې پیدا کړه د شپې پر یوه بجه د دوی کور ته ور واوښتم پنځه سره یعنې درې وروڼه مور یې او خور یې چې زما کوزده وه تر تېغ تېر کړه او ومې وژل.
بیا نو زه حکومت ونیولم څو کاله په ترینکوټ کې بندي و اقرار اواعتراف مې هیڅ نه دی کړی، چې دوی ما وژلي دی، څو څو

ځلې یې تر مرګ تر پولې پورې وهلی یم خو زما هم هغه یوه خبره وه چې دا کار ما نه دی کړی ممکن زما غلیمانو او دښمنانو کړی وي، چې ما په تورن کړي، ولې چې زما او د دوی د بدۍ ښخه کلی کور او ټول خلک خبر دي.

جلیل غټ غټ بریتونه درلودل د هیچا سره یې خبرې نه کولې ټوله ورځ به پر دو پښنو ناست وو لاسونه او سر به یې پر زنګنو پروت او په سوچونو کې به ډوب و، یوازې خپل لمونځ او اودس یې کاوه او بس...

# ژوندی پاچا

د ژوندي پاچا یا شاه زنده یو عجیب او غریب داستان او کیسه ده، چې زما پخپله د سترګو لیدلی حال دی، چې دا داستان تر اوسه پورې هم ادامه لري.
نالوستوب او بې سوادو وګړو ته داسې تیارې او مذخرفې لارې وربښو وې، چې د خلکو څخه خپله اصلي انساني اخلاقي او رڼا لاره ورکوي.
نالوستي څه آن دا چې لږ لوستي کسان هم ټکني او متردد کوي، حق او ناحق نشي سره بېلولای ملامت او سلامت نه شي سره پېژندلای د نا امنیو بدبختیو، کړکېچو او بدمرغیو د رامنځ ته کېدو په علت، سبب او ریښه خو ککړ لانه وي هوایي او پیټاوي خبرې کوي، ما هر او چالاکه خلک د دوی څخه ګټه پورته کوي، پر هره ناروغه او نا سالمه لار، چې یې رهي کړي دوی پر روان وي د خپل ځان خپلې کورنۍ، خپلو خلکو او خپل هیواد په سوکالۍ پت او عزت ښه نه پوهیږي.
هغه کارونه او کړنې چې د ټولنې بې پتي او بې عزتي پکې وي، او د دوی هم پخپله زیان پکې نغښتی وي، دوی ته په خیال ګټور ښکاري او په هغه لاس پورې کوي دا چې پایله یې څنګه ده نه په پوهیږي د دې ډول ډول بدبختیو او بدمرغیو څخه ټول انسانان یوازې د بشپړې پوهې او علم په واسطه ځان خپله کورنۍ، ټولنه او هیواد ژغورلای شي.
را به شو اصلي داستان ته چې دا داستان هم د دغه لوړ بیان سره اړیکه لري.
داستان یا کیسه داسې ده ، چې زه پخپله څو کاله مخکې د ازبکستان هیواد ته تللی وم د ازبکستان په پلازمینه تاشکند کې اوسېدلم بیا د یوه ملګري سره د سرم قند او بخارا ښارو ته د سېل لپاره ولاړم هلته مې هم څو شپې او ورځې تېرې کړې، زه چې به هر چېرته اوسېدلم هلته به مې خپله څېړنه او معلومات

ترلاسه کاوه.

د ورځې له خوا به زه د ليدلو وړ ځايو ته لکه موزيم، پارک، زيارت اوداسې نورو ځايو ته ورتلم ليدنه کتنه به مې کوله.

د دې ليدلو په لړ کې يوه ورځ يوه زيارت ته ورغلم د دې زيارت نوم شاه زنده (ژوندی پاچا) و، د خلکو ډېره ګڼه ګوڼه وه، دې زيارت ډول ډول کوټې او دهليزونه درلود د هرې کوټې و مخ ته به يو څوک ناست و خلکو ته به يې معلومات ورکاوه، ما هم د هر يوه څخه بېلې بېلې پوښتنې کولې دوی به داسې معلومات راکول، چې هيڅ د منلو وړ نه ول، چا چې به يو سالم او روغ عقل او سد درلود د دوی خبرې يې هيڅکله نه شوای منلای په داسې حال کې چې دوی د دې خپلو معلوماتو په مقابل کې د څو پيسو غوښتنه هم درلوده.

دوی چې به ماته وکتل دوی هم را پوهېدل چې ماته د منلو وړ نه دي زه هم په پوهېدم دوی د ځانه هوايي او پيتاوي خبرې راته کوي او د خلکو پاملرنه ځان ته ور اړوي، چې د دوی تر اغيزې لاندې يې راولي او يو څه غشمړي ځينې پرې کړي.

د بېلګې په توګه به زه د دې دروېشانو د څرګندونو او معلوماتو يو خبره درته وکړم، هغه دا چې هغه زيارت کې يو د اوسپنې قفس يا پنجره وه، د دې پنجرې په داخل کې د يوې دروازې په اندازه يو غټ سوری يا صوف و.

ما ورته وويل: دغه څه شی دی؟

دوی راته وويل: په سلګونو کالو پخوا دلته يو باچا و.

کله چې دا پاچا د بهرنيو ځواکونو تر بريد لاندې راغی او دلته کلابند شو نو ده په خپل کرامت سره ځان ته دغه ځای غوره وباله او ځان ته يې جوړ کړ او په ننوت او هغه تر اوسه ژوندی دی، او په دغه غار کې ژوند کوي.

ځکه نو دغه زيارت د ده زيارت دی او د ده په نامه ياديږي چې شاه زنده يعنې ژوندی پاچا دی تر اوسه پورې ژوندی دی او په دې غار کې ژوند کوي، دی تر قيامت تر ورځې پورې دلته ژوندی پاته کيږي.

په خپل كرامات سره د خلكو څخه درد، رنځ او بد مرغي پورته كوي، او نه پريږدي چې دا هيواد د نورو تر ولكې لاندې راشي.

# پهلوان «قوماندان»

چې هم پهلوان شي او هم قوماندان شي د علم او د پوهې دڅنګ سره نه وي تېر شوی هغه نو بیا داسې کارونه کوي، چې موږک یې په ګدام کې نه کوي.
زه بیا هم دمجبوریت له مخې نه سم کولای د دې پهلوان نوم واخلم اګر چې د شمالي ولایاتو په سلو کې پنځوس خلک یې پېژني او دا ډول کړنې یې نورې هم ورته معلومې او ښکاره دي، ولې چې دوی به دا خپل ناوړه عمل د خلکو په مخ کې کاوه د دې لپاره چې نور خلک وډاروي خپل شان او دبدبه په خلکو ووینې.
زه دا ډول کیسې د دې لپاره نه لیکم، چې یوازې هم هغه قوماندان او پهلوان مجرم ثابت کړم بلکې د دې لپاره یې لیکم چې زموږ راتلونکي نسلونه پر دې ډول کړنو او اعمالو قضاوت وکړي او د دې ډول ناوړه کړنو څخه لاس پر سر شي.
دا د توپک سالارانو پهلوانانو او قوماندانانو د کړنو یوه بېلګه او نمونه ده دا ډول کارونه یې په لسګونو او سلګونو ترسره کړي دي، چې پوهه، وجدان او احساس نه وي نو ښکاره خبره ده هلته د ځنګل قانون چلیږي، تر دې نه هم ورانې او ویجاړې ترسره کوي.
اصلي خبره داسې ده کله چې نظم او قانون خپل ځای و بې نظمي

او خپل سري ته پرېښود او په هیواد کې ملک الطوایفي رامنځ ته شول یوه پهلوان خپل ځان ته د عیاشۍ لپاره یوه ښکلي نجلۍ په زور او ظلم د انډیوالي په ډول نه د خپلې ښځې په ډول ساتلې وه.

دې پهلوان څو نورې ښځې هم درلودې په هغو یې سکته (قناعت) نه درلود کله ناکله به یې د خپلو بې ګناه هیوادوالو لونې په زور دا ډول کارو ته مجبوره کولې، چې د دې قوماندان به د لور یا هم د لمسۍ پر ځای کېدې.

د دې قوماندان دې ښایستې او ځوانې انډیوالې پر یوه بل ځوان چې ډېره ښه ځواني یې درلوده سترګې سرې کړې.

څه سر دې پر ګرځوم دوی سره جوړ شول په پټه د ازبکستان پلازمینې تاشکند ته وللاړ غوښتل یې چې سره مېړه او ماندینه شي، دا قوماندان په خبر شو او د ازبکستان دچارواکو سره یې هم ښه اړیکې درلود.

بیا نو په یوه دولتي چورلکه چې دې پهلوان ولکه کړې وه سپور شو چورلکه یې راساً تاشکند ته پرواز ورکړ، د هغه هوټل مخې ته یې کښېنوله په کوم یوه کې چې دا هلک او نجلۍ اوسېدل، نفر یې هوټل ته ور وختل هلک او نجلۍ یې دواړه لاس تړلي، چورلکې (علي کوپټر) ته بورته کړل بېرته یې افغانستان ته بوتلل، هلته یې ډېر خلک راغونډ کړل د هلک کورنۍ مور، خویندې، وروڼه او نور دوستان یې هم ټول ور وغوښتل د ټولو خلکو ترمخه یې امر وکړ، چې دهلک غاړې ور پرې کړئ.

د هلک سر یې ور غوڅ کړ او نجلۍ یې بیا هم د خپلې عیاشۍ لپاره وساتله، د هلک مور چې د خپل زوی د غاړې پرېکېدل او د وینو فوارې ولیدلې تر زړه یې تور دودونه او لوګي پورته شو بیا نو نه خوب درلود او نه خوراک د څو میاشتو په جریان کې د خپل زوی له ګرومه هغه هم تارو نار او په پای کې پسې مړه شوه.

# هیواد پالنه

زموږ څه دا ډېرې ګډوډې او اوږدې بې نظمۍ د هیواد پالنې دود او دستور ګرسره راڅخه هېر کړی دی، یوازې او یوازې د ځان ګټو ته ګورو او بس...
په دې هم نه پوهیږو چې د هیواد په سمسورتیا، ابادۍ، پرمختګ او شیرازۍ کې زموږ د ټولو ګټې نغښتې دي او د تل لپاره د فقر، بېسوادۍ، بې عدالتۍ، ظلم او زور څخه ژغورل کیږو او د سیالانو سره سیال کیږو.
مګر اوس یې ناپوهۍ، خروښ او فقر له کبله د خپل هیواد لارې، پلونه، ښوونځي، روغتونونه او نور د ټول ګټو ځایونه په خپل لاس ورانوو او له منځه یې وړو، او په دې هم نه پوهیږو.
چې دا ټول د بیت المال په پیسو جوړ شوي دي.
دا لا څه کوې خپل بې ګناه هیوادوال د ډول ډول بهانو او د بېګانه وو په لمسون له منځه وړو، ځان مرګي واسکټونه او نور چاودېدونکي توکي د خپلو هېوادوالو او هېواد د ورانولو په خاطر له بهر څخه هیواد ته راوړو خپل ځان او ایمان پر پردیو پلورو.
زه به د اصلي او واقعي هیواد پالنې یوه بېلګه او نمونه تاسو درنو لوستونکو ته بیان کړم، چې پخپله به ګوته په غاښ ورته ونیسۍ.
هغه دا چې دلته په اروپا او لندن کې داسې نیشه یې کسان سته چې نه کور لري، او نه هم ډوډۍ دوی اکثراً یو سپی هم د ځان سره ساتي په لارو او کوڅو کې ناست وي فقر کوي د هم هغه سوال په پیسو بیا ځان ته خوراکي توکي او د نیشې شیان رانیسي د شپې بیا تر پله لاندې ویدیږي او سپی یې هم ساتنه کوي دا ډول خلک چې نه په اسمان کې ستوري او نه هم پر مځکه سیوری لري مګر بیا هم خپل هیواد پر ګران وي، او دهغه سره د زړه له کومې مینه لري.

**زما يو دوه ملګري دي، دوی غوښتل چې دوی وازموي چې د هيواد سره يې مينه په رښتيا ده که نه بيا نو ورغلل و يوه سوالګر نيشه يي ته کښېناستل او يو څه پيسې يې هم ورکړې، او د هيواد په هکله يې بد وينه او غيبت ورته پيل کړ، هغه نيشه يي سوالګر د دوی ورکړې پيسې بېرته ور وغورځولې او ورته وويل که مو بله خبره د دې هيواد د بدو ويلو په هکله کړې وه، خپل سپي هم را ښکارم او هغه ته وايم چې سره څيرې مو کړي او که په دې هم ونه شوه نو بيا پوليسو ته خبر ورکوم، چې لاس تړلي مو بوزي.**

**دوی وويل چې موږ د دې سوالګر هيواد پالنې ته هک پک پاته شولو او له بله لوري په رښتيا هم وډارېدلو چې زموږ په ضد کوم عمل ونه کړي موږ به ټوکې کوو او دی به ازمايو، مګر د سات څخه به پسات جوړ شوی وي.**

**نو ډېر ژر مو دهغه ځای څخه پښنې سپکې کړې.**

**پای**

Download from:aghalibrary.cm